محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۱۰۷

# محسن تفسیر

## ۱۰۷ ــ د «ماعون» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسین «عنایت»

د ماعون سورت تشریح

ژباړه او څېړنه:

احمد حسین عنایت

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوراند او لورین الله په نامه

سورةالماعون

## د ماعون سورة   (۱۰۷)

د «ماعون» سورت مکي دی (۷) آیتونه یوه رکوع لري په تلاوت کې (۱۰۷) په نزول کې (۱۷) سورت دی د «تکاثر » له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

له پخوانیو څخه ډېریو دا سورت مکې ګڼلی، او همدا راز د سورت متن او له مخکیني سورت سره یې ډېره نژدې اړیکه پر دې دلالت کوي چې دا سورت ښایي مکي وي. خو له پخوانیو څخه ځېنو محدودو کسانو دا سورت مدني بللی دی او له هغوی په پلیونی ډېریو معاصرو مفسرینو ددې سورت د وروستیو آیتونو پر استناد چې ګواکې دا آیتونه منافقینو ته نغوته لري او چون منافقینو په مدني دوران کې شتون درلود نو له همدې لامله ځېنو مفسرینو [لکه مولانا مودودي (رح)] لږ تر لږه ددې سورت وروستي څلور آیتونه مدني ګڼلي دي  او دا اشتباه له همدې راولاړه شوې چې مصلّین یې، نمونځ کوونکي ترجمه کړې او صلاة یې یوازې مسلمانانو ته اړوند ګڼلی، حال دا چې قریشو هم په خپل ځای کې یو ډول صلاة درلود او په دې آیتونو کې د قریشو ناسم مصلّین غندل شوي دي یعنې دلته یې اصلي نغوته قریشو ته ده. چې انشاءالله ددې تشریح په بهیر کې به توضیح شي.

### له مخکیني سورة سره اړیکه  او د سورة د منځپانګې چورلیځ:

د «قریش» سورت چورلیځ د قریش قبیلې ته یو فرمان دی، د هاغه الفت له لامله چې د هغوی تر منځ رامنځته شوی وو، چې د هغه په پایله کې یې وکولی شي په مختلفو موسمونو کې لېریو واټنونو ته په امنیت او سوکالۍ کې تجارتي سفرونه وکړي، باید ددې کور [کعبې] پالونکی څښتن ونمانځي. هاغه پالونکی څښتن چې په دې توسه یې [د ایمان، عشق او عرفان د اهل لپاره کعبه د مرکز په توګه له ګومارنې سره]، هاغه اوبجه چې د کرکیلي او مالدارۍ استعداد یې نشت دی [بِوادٍ غیر ذی زرع]، د سیمې د مهم تجارتي او راکړې ورکړې د مرکز په توګه رامنځته کړ او د اقتصادې سینګار او رونق او د پانګې او توکو د څکونې له لارې یې، د هغې اهل ته له لوږې ژغورنه ښنلې ده [الذی اطعمهم من جوع]،او له ویرې، ډار او تیرې څخه ـ چې پرله پسې پر هاغه سیمه واکمن ول ـ د بیت

او د هغه د حريم د امنيت په سېورې کې په ټـول کـال کـې،[او پـه ټولـه ټاپوزمـه کـې د«حرام» په ځلورومياشتو کې] پناه ورکـړې ده [وامـنهم مـن خـوف]. دا د قـريش سـورة مضمون اومنځپانګه ده.

د ماعون سورة د ننداري بله پرده يا د قريشو د تاريخ بله پاڼه ده چـې د بعثـت پـه هماغـو لومړنيو کلونو کې يې د وحی مخاطب پيغمبر ته (يا بل هر مخاطب ته) څرګندوي. په دې سورت کې ( له دغو ټولو ناشکريو او قدر ناپېژندنو څخه) له استفهامي هېښتيا سره، له هاغه قومه يو شمېر کسان [ابوسفيانان، ابوجهلان، او وليد بن مغيره ګان] معرفي کوي چـې لـه لوړې څخه د مړښت او له ډاره د امن سره سره چې خدای تعالی پر قريشو لـورولي دي، ددې پر ځای چې ددې نعمتونو شکر وکاړي او بېوزلو او محرومو بندګانو ته ددې نعمتونو غبرګوونکي اوسي، نه يوازې دا چې بې پناه او بېکس يتيم ته، چـې لـه ډار او خطـر سره مخامخ دی، د خپل کور د امنيت تر سيوري لاندې پناه نه ورکوي، بلکـې پـه سـختۍ او رټنه هغه شړي [فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ]، او نه وږو ته د خوراک ورکولو کومـه لېوالتيـا، عاطفه او احساس لري او نه په دې چار کې ترغيب او هڅونه کوي [وَلَا يَحُضُّ عَـلَى طَعَـامِ الْمِسْكِينِ]. په داسې حال کې چې ددې دوو نعمتونو «امنيت او رزق» دا غوښتنه او تقاضا ده چې هغوی، د بېوزلو، اړمنو او محرومينو په اړه د دغه محبت او اکـرام لـه خونـد سره آشنا وي او کړلو ته يې عمل کوونکي او چمتو اوسي. دا ټـولې ناشـکرۍ لـه دې سرچينـه نيسي چې هغوی د پالونکي ښتن د خالصانه عبادت او نمانځنې پر ځای چې فرمـان يـې پرې مونډلی وو [فليعبدوا رب هذا البيت] [په مخکيني سـورة کـې]، سرونـه يـې د دنيـايي اربابانو [ابوسفيانانو] پر درشل وسولول او د نمانځه پر نسبت، ساهي [غافل، هېروونکي او بې علاقې] او د انفاق او ټولنيزو حقونو په اړه ځان ښودونکي، رياکار، سـپموونکي او ممانعـت کوونکي شول: الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ، الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ، وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ.

پر دې ترتيب د «قريش» په سورة کې پر قريشو د الهي نعمتونو او کوم حـق چـې لـه دې لامله له هغوی څخه غوښتل شوی دی، خـبره کـوي او د «مـاعون» پـه سـورة کـې ددې نعمتونو پر وړاندې د هاغه قوم له ناشکريو، [د هغوی د کبرجنو شتمنو مشرانو لـه] کړنـو او چال چلنده خبره کوي. ګواکې د ماعون سورة اصلاً بېل سورة نه وي په بشـپړه طبيعـي او منسجمه توګه د «قريش» سورة ځواب او غځونه ګڼل کېږي.

د «فجر» په سورة کې هم دا راز غبرگون تر غندنې او ترټنې لاندې نيول شوی دی. له يـو لورې د پالونکي څښتن اکرام او انعام څرگندوي «فَأَمَّا الْإِنْسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَـهُ ... » او له بل لورې د هغه په توسه د انسان اکرام نکول يتيمانـو او بېوزلـو او مسـکينانو تـه خواړه نه ورکول ياد شوي دي[كَلَّا بَلْ لَاتُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ،وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ].

چې د «فجر» سورت دا آيتونو هم د قريش او هم د ماعون دړاړو سورتو مفهوم رانغاړي.

آيا کولی شئ د قريش سورة پسې د ماعون سورة پر ځای کوم بـل سـورة ځـای پـر ځـای کړئ چې دا راز په همغږۍ او په هوسا توگه له يو بل سره پيوند او تړاو ولري؟

په دې سورة کې يې د کاذب، سطحي او ظاهري «مصلّين» ځانگړتياوې بيان کړي دي، له دې سره مل په بل سورة کې يې هم له مثبت اړخه د صادقو، ژورو او باطني «مصلين» ځانگړتياوي هم گڼلي دي چې له دې دوو سورتونو له پرتلې او د هغوی د آيتونو له تطبيق او سمون سره کولی شو د «مصلين» په واقعي ځانگړتياو په غوره او بهتره توگه پوه شو. دا تر نظر لاندې آيتونه د معارج سورة په منځ (۲۲ تر ۲٦ آيتونو) کې واقع شوی دي او د ماعون سورة پرخلاف چې دا ډول نمونځ يې «د دين د تکذيب» پايله [ارايت الذى يكذب بالدين] گڼلي دي، په دې سورت کې دا ډول نمونځ يې د دين تصديق [والذين يصدقون بيوم الدين] معرفي کړی دی. سربېره پر دې، د ماعون سورة په څېر چې سطحي او ظاهري نمونځ يې د هاغو کسانو عبادت گڼلی چې له خپلو امکاناتو او شتو سره سره کوم يتيم ته پناه نه ورکوي او کوم وږی نه مړوي او خواړه نه ورکوي. او له «ماعون» مخنيوی کوي، په دې سورت کې هم واقعي مصلّين له هاغو کسانو استثناء او بيلوي چې د مال په راټولولو او ساتلو عمل کوي (و جمع فاوعى) او که کوم خير (مال او ثروت) ورته ته ورسيږي نورو ته له مرستې څخه، ډډه او ځان ساتنه کوي (و اذا مسّه الخير منوعاً)

په لاندې توگه په دې دوو سورتونو کې اړين آيتونه يو تر بله تطبيق او پرتله کوو:

ماعون: فويل للمصلّين، الذين هم عن صلاتهم ساهون، والذين هم يراؤن و يمنعون الماعون.

معارج: الا المصلّين، الذين هم عن صلوتهم دائمون،والذين فى اموالهم حق معلوم للسائل والمحروم.

د پورتنيو آيتونو له پرتلې داسې برېښي چې د «ساهون» د معنا مخالف «دائمون» وي او د «يمنعون الماعون» د معنا مخالف «حق معلوم للسائل والمحروم»

سبحانك رب العزة عمّا يصفون و سلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين.

## د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمَنِ الرَّحِيمِ
أَرَأَيۡتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ ﴿۱﴾
فَذَٰلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الۡيَتِيمَ ﴿۲﴾ وَلَا
يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الۡمِسۡكِينِ ﴿۳﴾
فَوَيۡلٌ لِّلۡمُصَلِّينَ﴿۴﴾ الَّذِينَ هُمۡ
عَنۡ صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ﴿۵﴾ الَّذِينَ
هُمۡ يُرَاءُونَ ﴿۶﴾ وَيَمۡنَعُونَ
الۡمَاعُونَ ﴿۷﴾

أَرَأَيْتَ =آيا تا پېژندلی، آيا تا وليد، آيا پاملرنه دې کړې ـ يُكَذِّبُ = دروغ ګڼي، دروغ انګيري ـ دِّين = قيامت، جزاء، اجر، پايله ـ يَدُعُّ = په سختۍ شړنه، په تاو تريخوالي شړنه، په رټنه شړنه، ټېل وهنه ـ يَحُضُّ = يو کار ته هڅونه، ترغيبول، ـ وَيْلٌ = وای، افسوس، هلاکت يا حسرت ـ مُصَلِّينَ = لمونځ کوونکي ـ صلاة = لمونځ، مخ کونه ـ سَاهُونَ = بېخبران، غافل، غفلت کوونکي، بې پروايان، له يو څيزه غافلېدل ـ يُرَاءُونَ = ريا کاري، ځان ښودنه ـ يَمْنَعُونَ = سپمونه کوي، ممانعت کوي، منع کوي [نه ورکوي] ـ الْمَاعُونَ = د ژوندانه لومړني اړين توکي، ناڅيزه توکي، د عامه استعمال وړ توکي، د ګاونډيانو تر منځ د راکړې ورکړې د عام استعمال وړ لوښي او وسايل، عمومي او ټولو ته اړوند پانګه، پيسې او اعتباري پاڼې، زکات.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمَنِ الرَّحِيمِ

أَرَأَيۡتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ ﴿۱﴾

آيا تا وليد [پاملرنه دې کړې ده] هاغه څوک چې [په عمل کې، نه تش په خبرو کې] د جزا [ورځ] درواغ ګڼي.(۱)

فَذَٰلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الۡيَتِيمَ ﴿۲﴾

نو دا هماغه کس دی چې يتيم [په رټلو او ټېلوهلو] شړي. (۲)

وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الۡمِسۡكِينِ ﴿۳﴾

او اړمنو ته په خوراک ورکولو کې هڅاندی نه دی.(۳) [يا دې کار ته د نورو ترغيب او هڅونه نه کوي].

| أَرَأَيْتَ | الَّذِي | يُكَذِّبُ | بِالدِّينِ | فَذَٰلِكَ | الَّذِي |
|---|---|---|---|---|---|
| آيا تا ليدلی دی | هاغه څوک | چې درواغ ګڼي | د جزا ورځ | نو دا هاغه دی | هاغه چې |

| يَدُعُّ | الْيَتِيمَ | وَلَا يَحُضُّ | عَلَىٰ | طَعَامِ | الْمِسْكِينِ |
|---|---|---|---|---|---|
| په رټلو [ټيلوهلو] شړي | يتيم | او هڅونه نه کوي | پر | خوراک ورکولو | د مسکين |

۱ــ د دين اصلي معنا، جزا او د ښو او بدو کړنو بدله او پايله ده چې د انسان د دنيايي او اخروي سرليک په ليکلو کې د کړ او اړولکړ پر نظام او د کړنو پر غبرګون دلالت کوي. که د ټولنو معنوي آيين او باورونو او عقيدې ته هم «دين» ويل کېږي، د خلکو تر منځ د نياو او د هغوی د پوړ او منزلت د پوړۍ او درجې د لوړولو يا ټيټولو لپاره د منل شوو ارزښتونو د معيار او ملاك له لامله دی. قرآن هم پر هيواد واکمن اساسي قانون «دِينِ الْمَلِكِ» نوملی [يوسف ۷۶ (۱۲:۷۶)] چې واکمنان او حاکمان د هغه پر اساس د خلکو منځ کې حکم کوي.

د ښوونځيو او پوهنتونونو ښوونيز نظام چې د هغه پر بنسټ د زده کړيالو علمي ارزونه او د هغوی نمرې ټاکل کېږي د دين د معنا د پوهېدو لپاره بله بېلګه ده. په انګليسي ژبه کې د «Dean» عنوان هاغه چا ته ويل کېږي چې په کالج يا پوهنتون کې د ښوونې د يوې برخې يا د زده کړيالو پر چلن د نظارت او څارنې مسئوليت يې پر غاړه وي. همدا راز په کاتوليک کليسا کې لوړپوړي کشيش ته دين وايي، او ددې په څېر نور مثالونه.

خو د دين له تکذيب څخه مطلب، د انسانو تر منځ د نياو او د هغوی د تشويق يا تنبيه او د جرم د جزا لپاره د معيار او ضابطې د شتون له ضرورته نظري او زباني انکار نه دی، بلکې ارزښتونو ته عملي بې اعتنايي او د هغوی ناليدلي نيول دي.

۲ ــ د اسلام د پيغمبر هم مهال قبيلوي ژوند له پېچلو ستونزو څخه يوه، د مرکزي دولت او ټولنيزو ملاتړکوونکو جوړښتونو نه شتون وو، ټولنيز ملاتړکوونکي جوړښتونه لکه روزنتون او پالنځی، د کونډو ښځو او هاغو بچيانو د ژوندانه د اداري لپاره وي چې په جنګونو کې به يې خپل پالونکي له لاسه ورکول، پر دې بنا د فقر او جهل په پَير کې د يتيمانو د ژوند اداره، تر ټولو اوچته، زيږه او لواړه سملاسي ټولنيزه دنده ګڼل کېږي.

د يتيمانو مسئلې ته د قرآن په ۲۲ آيتونو کې له مختلفو ګوټونو څخه نغوته شوې؛ لکه: د هغوی له مالونو څخه د څارنې، د هغوی د چارو د اصلاح، هغوی ته د خوراك ورکولو، او له هغوی سره د انفاق او احسان کولو په اړه راغلي چې په ټوله کې مادي اړخ لري، خو په څو آيتونو کې هم د هغوی په نسبت د اکرام، درناوي او مينه پالۍ توصيه کوي او له قهر او زيږوالي څخه مخنيوی شوی دی له هغې جملې: «كَلَّا بَل لَا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ» [فجر۱۷(۸۹:۱۷)]،«أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى...فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ» [ضحی ۶(۹۳:۶) او ۹].

۳ ــ «يَحُضُّ» د «حضّ» له ريښې؛ شوق، لوالتيا، غوښتنه او رغبت درلودل، او يا [ د مفاعله په باب کې، تحاضّون ] د ووړو د ګېډې مړولو لپاره د نورو تشويق، ترغيب، لمسونه او هڅونه ده. دا فعل په دوو نورو آيتونو کې چې راغلی، په پرله پسې توګه بېوزلو ته د خوړو ورکولو د ترغيب او هڅونې په اړه دي: «وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ» [حاقه۳۴(۶۹:۳۴)]، «وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ» [فجر ۱۸(۸۹:۱۸)].

له بده مرغه زموږ په معاصره نړۍ کې د نړۍ د ځواکونو د برلاسۍ او واکمنۍ غوښتنو پر بنسټ، د ټولنيزو سرچينو، وسايلو او توکو د عادلانه ويش د نه شتون او د ملتونو د ځبېښاک له لامله، نه يوازې د لوږې تغر له نړۍ ټول نشو، بلکې کابو ۸۰۰ ميليونه کسان له لوږې او د ژوند د لومړنيو اړتياو د نه شتون له لامله رنځ کاږي چې له ټولنو څخه د لوږې د لېرې کولو لپاره د توانمندانو او وسمنو په تشويق، ترغيب او هڅونو کې د دولتونو سياسي او د ولسي بنسټونو کړنو او هڅو ته اړتيا ده.

---

## د ماعون سورت له لومړي تر دريم [ ۱ ـ ۳] آيتونو تشريح:

بسم الله الرحمن الرحيم. أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ. آيا ته وينې، تا وليد او پاملرنه دې وکړه، هاغو کسانو ته چې: يکذب بالدين؟ دين تکذيبوي؟ دين دروغ ګڼي؟ د دين په اړه دروغجن دي؟ «يکذب»، مضارع فعل دی او مضارع استمرار افاده کوي، يعنې مستمراً [پرله پسې تل په دوامداره توګه] دين ناليدلی نيسي او تکذيب يې کوي. فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ. وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ. فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ. الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ. الَّذِينَ هُمْ يُرَاؤُونَ. وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ. ددې سورت نوم د هغه له وروستۍ کليمې [ماعون] څخه اخيستل شوی دی.

د أَرَأَيْتَ [تا وليد] خطاب په ظاهري توګه حضرت رسول اکرم ته دی، خو د قرآن د بيان انداز په دې ډول دی چې په داسې ځايونو کې په عمومي توګه د عقل خاوند او د پوهې او تدبر والا هر څوک مخاطب کوي. او د ليدلو څخه موخه د سترګو په توسه ليدل هم دي، ځکه چې ورپسې کوم حال بيان شوی

دی هغه هر ليدونکی د خپلو سترګو په توسه ليدلی شي، او د هغې مطلب پوهېدل، اندنه او غور کول هم دي. د عربي په څېر په پښتو کې د ليدلو لفظ په يوه بله معنا هم استعماليږي؛ د بېلګې په توګه مورږ وايو «زه وينم چې» او مطلب يې دادی چې زه پوهېږم يا زه خبر يم. يا وايو «لږ دا هم وګوره» او مطلب يې دی چې غور پرې وکړه. نو که د **أَرَأَيْتَ** لفظ په دوهمه معنا واخيستل شي نو د آيت مطلب به دا وي چې «پوهېږې هغه څرنګه وګړی دی چې جزا او پايله دروغ انګيري»؟ يا «تا د هاغه وګړي پر حال غور کړی چې د کړنو او عمل جزا او پايله دروغ ګڼي»؟ په دې طريقه د يو چا خوا ته د هيښتيا او کرکې سره د پام اړولو لپاره راځي.نو دلته له «**الَّذِي**» څخه مقصد څوک دی؟

د آيت له متن څخه په څرګنده توګه نه برېښي خو له قرينې څخه معلوميږي چې مقصد به يې د سورة د نزول پر مهال د قريشو ډېر بخيل مالداران وي چې پر بيت المال يې قبضه کړې وه او د سورت د تشريح په بهير کې به واضح شي چې هغوی به ټولګټې شتمنۍ‌خپل شخصي جايداد ګڼه او له هغوی څخه لاسته راغلي عايدات به يې د خپلو ګټو او شخصي مقصدونو لپاره کارول او په هغوی کې تر ټولو مشر يې په اصطلاح د مکې قارون ګرځېدلی وو.

دلته د خبرې اصل مقصد خو د هغه د شقاوت او خسيس توب لور ته اشاره کول دي، نو کوم شخص چې دومره سخت زړی او خسيس دی چې يتيمان رټي او ټېل وهي، له هغه څخه د خير تمه څنګه کېدی شي؟ چې هغه دې د بيت الله د کومې خانګې مشر يا واکمن وي؛ ليکن خبره يې په داسې طريقه بيان کړې؛ د کومې په توسه چې د هغه، هاغه باطن هم څرګند پرې چې دده د قصاوت، شقاوت او ډبرزړه توب اصل لامل دی.

د «**يُكَذِّبُ بِالدِّينِ**» صفت او ستاينه د هغه باطن انځوروي چې، د جزا او اُجرت دروغ ګڼونکی دی. څوک چې له معاد، آخرت او پايلې منکر وي په هغه کې

کورټ ددې چار لپاره کوم محرك او هڅاندی شتون نلري چې د خدای د خوښۍاو په خالصه توګه د خلکو د چوپړ او د بېوزلو او فقيرانو سره د خواخوږۍ او لاس نيوي لپاره وي. داسې وګړی که څه ورکړه او د مرستې په نامه کوم څه کوي هغه هم د خپلې شخصي موخې، ځان ښودنې او نندارې لپاره کوي. بې غرضه فياضي يوازې په هاغه وګړي کې پيدا کېږي چې د آخرت پر جزا او پايلې د زړه له صدقه ايمان ولري او ددې صداقت جوتوالی په عمل کې څرګند کړي د ليل په سورت کې يې پر دې حقيقت رڼا اچولې ده:

فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى. وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى. فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى. وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى. وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى. فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى. [ليل ۵ (۹۲:۵) تر ۱۰]

نو هغه څوك چې [له خپله ماله] ورکړه [او ښل] وکړي او [د نفس له هوا او ځان غوښتنې] پرهېز [او ځان ساتنه] وکړي، او غوره ترين [عمل او بهترينه وينا يا حق ته بلنه په وينا او عمل کې] تصديق کړي، نو ژر به [مونږ هم] هغه [د هغه د ودې او کمال په لارکې ] د آسانۍ لپاره [دهغه نفساني سختی او خنډونه] آسان کړو. خو هغه څوك چې بخل [او کنجوسي] کوي او [د نفس له مهارولو او له ګناه د پروا کولو څخه] بې نيازي [او نه اړتيا احساس، او څرګندونه يې] وکړي، او غوره ترين [عمل او بهترينه وينا او کړنه يا حق ته بلنه په وينا او عمل کې] دروغ وګڼي، نو [له داسې کړنو سره، موږ هم د] هغه [نفس د ودې او کمال په لاره کې] د سختېدلو لپاره آسانوو.

نو، کوم کسان دي چې د دين تکذيب کوي؟ د هاغه درك او پوهې پر بنسټ چې موږ يې په خپله ژبه کې له ژباړل شوي قرآن څخه لرو، دين د اعتقاد او مذهب او مکتب په معنا ګڼو. تکذيب هم لفظي او ذهني تکذيب معنا کوو. خو داسې نده او ددې آيت په پوهېدنې کې روښنې پوښتنه چې ذهن ته راځي، داده چې کوم کسان واقعاً د دين تکذيب کوي؟ نو په ښکاره او ظاهري توګه خو يې ځواب دا دی چې هاغه کسان چې خدای او پيغمبر نه مني، لکه د

بېلګې په توګه همدا کسان چې په تلويزيون او رسنيو کې د اسلام پر ضد تبليغ کوي، يا د دين او مذهب په ردّ کې کتاب ليکي. په داسې حال کې چې تکذيب يوازې دا نه دی لکه څنګه چې مو وويل، ستونزه په دې کې ده چې موږ د دين تکذيب او تصديق ذهني چارې ګڼو؛ يعنې يوازې دا بسنه کوي چې يو څوک ووايي زه دين نه منم؛ اسلام نه منم، قرآن نه منم، نو موږ انګېرو چې هغه تکذيب کړی دی. يعنې تکذيب او تصديق ژبنې او ذهنې انګېرو؛ لکه اعتقاد درلودل يا نه درلودل چې زموږ په ليد کې ذهني چار دی. نه وايم چې دا تکذيب نه دی، خو ژبني تکذيب د هغه لومړی پاټکی دی.

نو په ټوله کې موږ روږدي يو، تصديق او تکذيب د قلبی اعتقادونو او ذهني څکېدنو په ساحه کې له ځای پر ځای کېدنو سره، د ژبې يا وينا په توسه ادا کړو، په داسې حال کې چې د قرآن په منطق کې د يو حقيقت تصديق يا د هغه تکذيب هاغه مهال څرګندېږي چې د عمل او ژوند په ډګر کې عينيت او تحقق ومومي. پر دې بنا هاغه څوک چې حقيقت تصديقوي، که په خپله ادعا کې رښتينی او خالص وي، او زړه يې هغه ته لوالتيا او تمايل ولري، په طبيعي توګه د داسې اعتقاد او تصديق نښې او اغېزې دهغه په کړنو اوچلن کې څرګندېږي، او که داسې نه وي دا اعتقاد د ژبې او ادعا له بريده تېر شوی نه دی، په قلب اوضميرکې يې واردشوی نه دی. همدا ډول دی د تکذيب په اړه.

قرآن هاغه کسان د خدای ژمنې ته صادق ګڼي چې عملاً او د خپل «ځان» په توسه يې خپل صداقت جوت کړی وي او که نه نو هر مسلمان کېدی شي د خدای په لار کې د جهاد او ځان تېرېدنې ادعا وکړي. د احزاب په سورت کې فرمايي: «مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً» [احزاب۲۳(۳۳:۲۳)]. د مؤمنانو له منځه، ځينو وګړو پر هاغه څه چې له الله سره يې تړون او ژمنه کړې وه صادقانه عمل

وکړ. د ځينو ترون له هغوی تېرشو [شهيدان شول] او ځينې نور په انتظار کې دي. هغوی هيڅکله الهي ترون تبديل نکړ. او هاغه کسان «مکذب» [دروغ ګڼونکي] ګڼي چې له ژبني ايمان او اعتقاد سره سره، په عمل کې د خپلې دعوې پرخلاف کړنې او چلن ولري. او دا سورة په ټولنيز چلن کې د دين له عملي دروغ ګڼنې يو مصداق څرګندوي.

نو تصديق او تکذيب په قرآن کې په ټوليزه توګه د «عمل» له مقولې څخه دي. يعني که زه په ژبه ووايم مسلمان يم او قرآن منم، خو په ژوند کې مې په عملي توګه دا څرګند نشي، قرآن ما درواغجن او د دين تکذيب کوونکی ګڼي، ځکه چې دا کېدی نشي چې يو څوک يو څيز قبول کړی او منلی وي خو هاغه اعتقاد او منه يې په کړنو او عملونو کې ښکاره نه شي. هر ډول باور، ايمان، اعتقاد چې يوازې پيژند پاڼيز او ذهني او ژبنيز وي، هر مهال چې په عمل کې رانشي، يو ډول نفاق او دوه مخيتوب دی.

لکه څنګه چې پورته ذکر شو، قرآنکريم،د هاغو کسانو لپاره چې د خدای په لار کې شهيدان شوي دي ډېر ښه تعبير کاروي، فرمايي:مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ، له مؤمنانو څخه ځينې وګړي دي چې:صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ، پر هاغه ژمنه چې له خدای سره يې کړې وه، صداقت وکړ:صدقوا. نه وايي رښتيا يې وويل، وايي هاغه ژمنه يې چې کړې وه، عمل يې پرې وکړ او د عمل په توسه يې په هاغه ژمنه او پيمان کې چې تړلی يې وو خپل صداقت او رښتينوالی څرګند کړ. فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ،ځينو له هغوی خپل پيمان او ژمنه سر ته ورسوله او شهادت ته ورسېدل.وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ،او ځينې نور له هغوی د خدای په لار کې د شهادت او جهاد لپاره د خپل نوبت او وار منتظر دي. وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً. دوی له خدای سره ژمنه په بل هيڅ څيز بدله نکړه. نو، د هاغه چا په اړه چې خپل ځان يې د خپل تعهد او ژمنې پر سر کېښود، وايي: صدقوا؛ نه دا چې رښتيا يې

ويلي ، بلکې سم او رښتيا يې کړي دي؛ د هاغې خبرې رښـتينوالی او صـداقت چې کړې يې ده او ژمنه او پيمان يې چې تړلی دی او د خپل ايمان درستوالی او سموالی يې په عمل کې ښکاره او څرګند کړی دی. نو دا تصديق دی. د دې په مقابل کې تکذيب ، هم همدا ډول دی. دا چې سړی په ژبه يو څـه ووايـي ، خو لږ تر لږه هاغه څه چې د دين او ايمان ژبنيز تصديق لپاره اړين دي سر تـه ونرسوي ، دا د دين تکذيب دی. په دې سورت کې له داسې يوه تکذيبه خبره کېږي.

دويم د «دين» معنا ده؛ دلته له دين څخه مطلب «جزا» يا د «جـزا ورځ» ده ، او د جزا له ورځې او د هغه له سترې محکمې [نياوتون] څخـه انکـار د انسـان پـه کړنو او عملونو کې پراخ او ارت غبرګون لري چې په دې سـورة کـې يـې ډېـرو بنسټيزو هغو ته نغوته شوې ده له هغې ډولي: «له سختی او رټنـې سره د يتيمانـو شړل»، « بېوزلو او اړمنو ته د خوراک ورکولو او مړولو په اړه د نورو نـه هڅـول» يعنې نه پخپله انفاق کوي او نه نورو ته ددې چار لپاره بلنه ورکوي.

ځينو هم دا اټکل کړی دی چې: دلته له «دين» څخه مطلب قـرآن يـا د اسـلام آئين دی ، خو مناسه او سمه معنا يې هماغه جزا ده ، چې د انفطار په سورة کـې يې ببلګه په څرګنده توګه بريښي: «كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِالـدِّينِ» [انفطـار ۹(۸۲:۹)] او همدا راز د «تين» په سورة کې راغلي «فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ» [تـين۷(۹۵:۷)] چې ددې سورتونو د نورو آيتونو له قرينې، د دين مطلب، د جزا ورځ ده.

نو دا چې وايو د اسلام دين يا د مسيحيت دين او د يهوديت دين ، دومره سم نه بريښي. چون «دين» په اصل کې د جزا ، بدلې ، اجورې او اُجرت معنا لري ، خو لکه څنګه چې قاعدو او مقرراتو ته له پايبندی او تړاو سره انسـان جـزا ، اجـر او اجوره اخلي ، که مثبت وي يا منفي وي ، دې مقرراتو تـه هـم د «ديـن» کليمـه اطلاق کېږي. له دې اړخه ، له مملکتي قاعدو ، او مقرراتو او اساسي قانون څخه هم کولی شو په دين تعبير وکړو. د حـضرت يوسف (ع) پـه داسـتان کـې ، پـه

هاغه زمانه کې چې لا ورونو يې هغه نه وو پېژندلی، فرمايي: مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ، [يوسف ۷۶(۱۲:۷٦)] يعنې د مصر د پاچا په دين کې، شوني نه وه چې يوسف وکولی شي له هيڅ لامل پرته خپل ورور بنيامين ستون او پاتې کړي، مګر له همدغه تدبير سره چې خدای هغه ته ور زده کړ. ښه، نو دلته «دين الملک» يعنې څه؟ پرته له قوانينو چې په هاغه مهال کې لازم الاجراء ول، نور څه ول؟ نو، «دين» يعنې نظامونه او قوانين چې د هغه پر بنسټ ځينې کسان تشويق يا تنبيه کړل شي.

نو، يوم الدّين څه شيز دی؟ يوم الدّين هاغه ورځ ده چې هر څوک به د خپل عمل پايله او اجر واخلي. نو دا چې فرمايي: لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ. [کافرون ٦(۱۰۹:٦)] يعنې ته د خپل عمل پايله او نتيجه وينې او زه هم د خپل عمل پايله او نتيجه وينې. نه دا چې ستا دين ستا لپاره او زما دين هم زما لپاره، لکه څنګه چې ځېنو ويلي دي. مثلاً که دين يې بت نمانځنه ده، خپله بت نمانځنه دې وکړي، زه هم خدای نمانځونکی يم خپله خدای نمانځنه مې کوم. نه په واقعيت کې داسې نه ده؛ بلکې موږ خپل کار کوو او د خپلو کړنو او عمل پايله او نتيجه وينو او ته هم خپل کار دې وکړه چې نتيجه او پايله يې ووينې. او البته په دې کې اجبار او اکراه، ځور او زور هم په کار نه دی.

دلته هم وايي: أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ. آيا ودې ليد هاغه څوک چې پرله پسې دين دروغ انګېري؟ هغه کوم کس دی؟ فَذَلِكَ الَّذِي، دا سړی، يَدُعُّ الْيَتِيمَ. يتيم له ځانه شړي. يَدُعُّ د «دَع» له مادې يعنې شړل له رټلو او تېل وهلو سره. د طور په سورة کې فرمايي: «يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا» پر هاغه ورځ چې [په زور او ځور د خپلو کړنو او عملونو] د دوزخ اور ته ورتېل وهل کېږي؛ [طور۱۳(۵۲:۱۳)]. لکه څنګه چې « يَدُعُّ » د «مضارع» فعل په بڼه راغلی، څرګندوي چې د يتيمانو په اړه دا د هغوی پرله پسې او مستمر کار دی.

له يتيمانو سره د صحيح او سم چلن سپارښتنه، تعليم او ښوونه چې ورکول شوې ده، د اکرام او عزت ده ـ لکه څنګه چې فرمايي: «كَلَّا بَل لَا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ» [فجر ۱۷ (۸۹:۱۷)] هېڅکله [داسې نه ده] ، بلکې [کره وره مو سم نه دي، او د طبقاتو اختلاف او فقر او فلاکت له دې لامله دی چې ] تاسو د يتيم [سره احسان او د هغه] عزت نه کوئ.

د نبي کريم (ص) وينا ده چې فرمايي: «من ضمّ يتيماً من المسلمين حتَّى يستغِنَى فقد وَجَبَ له الجنَّة» [د احمد بن حنبل مسند ۱۹۰۲۵] هغه چا چې يتيم له ځان سره يو ځای کړ تر دې چې هغه غني شي نو هغه ته جنت واجبيږي.

او دا سړی هم: يو خو دا چې د يتيم حق خوري او که د هغه له پلاره يا د کورنۍ له کوم غړي ورته په ميراث کې څه پاتې وي له ميراثه يې بېدخله کوي او هغه په تېلوهلو شړي. دويم؛ دا چې که يتيم هغه ته د مرستې غوښتو لپاره راشي پر هغه د رحم کولو پر ځای هغه رټي او په تېل وهلو يې شړي.

دريم: که دا سړی د يتيم کفيل وي، او يتيم يې د خپلې کورنۍ غړی وي او يا که د ټولنيز سيستم له لامله د يتيم کفالت ور په غاړه شوي وي د رحم، لوريني او مهربانۍ پر ځای د هغه د مال د قبضه کولو سربېره پر هغه ظلم کوي او تر ځور لاندې يې نيسي او داسې رويه ورسره کوي لکه څوک يې چې له يو پېرل شوي بېکسه غلام سره کوي.  دا سړی د رد سوک د يتيم پر سينه وهي، خو هر هاغه څوک چې د ذرې په کچه عاطفه او احساس ولري، زړه يې د هاغې ماشوم په حال چې سرپالونکی نلري او بې پناه دی سوزېږي؛ خو دا سړی د هغه پر حال رحم نکوي او هغه ته پاملرنه نکوي، او له دې ټولو سره د دينداري ادعا هم کوي. حتا حاضر نه دی له خوړې ژبې سره د هغه زړه ښه کړي.

په اسلامي ټولنې او چاپېريال کې، لکه څنګه چې حضرت ابوبکر صديق (رض) فرمايلي؛ ـ ضعيف، تر هاغه مهاله تر ټولو ځواکمن دی تر څو چې د هغه حق

ورته ورنکړل شي - پر دې بنا ددې خبرې تقاضا داده چې د ټولنې هر وګړی د زړه له تله د هاغو خلکو عزت وکړي د چا چې حقوق لا نه دي ورکړل شي. د هغوی د حقوقو ملاتړ کول، د هغوی د حقوقو اداء کولو ته هڅونه او تلقين کول، او د حاصلولو لپاره يې د خپلې سينې ډال کول د هرې مسلمانې ټولنې فرض دي. دا د قرآن سپارښتنه ده چې که څوک له تاسو څه وغواړي، يا د مرستې غوښتنه درڅخه وکړي چې وسه مو نه وي او څه نه مو درلودل، په ادب او درناوي له هغه عذر وغواړئ، مثلاً ورته ووايې؛ ان‌شاءالله چې خدای مې لاس آزاد کړي چې وکولی شم په خدمت کې به دې اوسم يا: ښښنه کوه چې ومې نشو کولی څه درته درکړم. يا لږ تر لږه که په ژبه هم وي، مثبت ځواب ورکړئ، نه دا چې اړمن له ځانه وشړئ او منفي چلن څرګند کړئ.

وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ. هغه د دين تکذيب کوونکی، نه پخپله د وږو د ګېډې مړولو او خوراک ورکولو لپاره هڅه کوي، او نه نور هڅوي. يَحُضُّ، د «حَضّ» له مادې يو څيز ته د نورو تحريضول او ترغيبول دي، يعنې د نورو تشويقول يو دوامداره او پرله پسې کار ته. «يَحُضُّ» د مضارع فعل په بڼه دی، او دا څرګندوي چې د بېوزلو او اړمنو په اړه دا کار په مستمر او پرله پسې توګه سرته رسوي. يعنې د نورو د ترغيبولو چار چې بايد په دوامداره توګه وشي، سرته نه رسوي. د وږو مړول خو په يو ځل دوه ځلو پای ته نه رسېږي. که يوه شپه مو يو مسکين، فقير او بېوزلي ته خواړه ورکړل، نو سبا به يې څه کېږي؟ د قرآن مقصد د ټولنې د بېوزلانو او وږو، ستونزو ته د رسېدلو او پاملرنې لپاره د سرليک او نظم سمونه ده. فرمايي د دين تکذيب کوونکي د داسې کارونو لپاره هيڅ انګېزه او هڅاندتيا نلري. تاسو فکر وکړئ په هره دقيقه کې څو کسان له لوږې مري؟ څو ماشومان په هره دقيقه کې؟ - په نړۍ کې د خلکو په سلو کې څو کسان وږي دي او آيا حتا د اړتيا وړ هاغه لږ تر لږه غذا لري؟ نه، په موږ کې څومره د وږو د مړولو او هغوی ته د غذا ورکولو او برابرولو لپاره انګېزه او هڅونه شتون لري؟

دلته يې هماغه خبره په منفي بڼه بيان کړې ده، فرمايي څوك چې يتيمان رټي او تېل وهي، هغه به د مسکينانو څه پالنه وکړي او نور به له هغوی سره د مرستې او پالنې لپاره څه وهڅوي، دې حقيقت ته په قرآن کې ځای پـر ځـای نغوتـه شوې ده چې بخيل خلك پر خپلې بخيلۍ د پردې اچولو لپاره غواړي چې نور هم بخيل اوسي او که څوك ددوی د غوښتنو پر خلاف له چـا سره مرسـته هـم کوي د هغوي بده ستاينه کوي.

نو زموږ په اعمالو کې «د دين د تکذيب» څرك او نښان کوم دی او کـوم چلـن له سره څراغه د تېرېدو او د تګلارې پر خلاف د حرکت په څېر د نظم او مقرراتو او جزا او مجازات «دين» پر عملي انکار دلالت کوي؟ آيـا د بـې پنـاه يتـيم لـه شړلو، هغه هم په سختۍ او توندۍ‌په زيږه توګه، له تېلوهلـو او رټلـو سره، او د بېوزلو او وږو د ګېډې مړولو له مخنيوي څخه، له جزا او بـدلې څخـه د انکـار لپاره بل کوم څرګند او ښکاره عمل شتون لـري؟ څرنګـه کېـدی شي سـړی لـه راتلونکي او آخرت سره د عمل او کړنو پر اړيکه او تړاو ايـمان ولـري او لـه دې حالت سره د دغې پړاو او بهير له پيليز او لومړي پړاو او ډګـره غافـل اوسي او د هغه پر پايلو او اغيزو پروا او اعتنا ونلري؟

دې خبرې ته بايد پاملرنه ولرو چې دلته د هاغه شخص يا وګړي په اړه وينا شوې ده چې په هاغه مهال کې د بيت الله پر ځانګړې ځانګې واکمن وو، چـې تـړاو يې د يتيمانو، مسکينانو او بېوزلو له چوپړ او خدمت سره وو. مطلب دا چې کـه غل د ځارندوی پر ځای کېني،کومه نتيجه چې ترې راوځي څرګنده ده.

أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ. فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ. وَ لَايَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ.

دا چې په قرآن کې په ځلونو له قيامت څخه خبره شوې او پرله پسې له انسان غوښتل شوي چې پر قيامت ايمان راوړي، هر څوك چې قرآن لولي هرومرو له ځان سره وايي: « د قيامت لپاره دا دومره ټينګار د څه لپاره دی؟».

په دې سورة کې يې دې پوښتنې ته ځواب ورکړی دی، پر قيامت ايمان درلودل ددې لامل کېږي چې انسان د سموالي او ښېګڼې لار ونيسي، پر دنيا زړه تړونکی  نه اوسي، زړه يې مهربان وي، له نورو انسانانو سره مينه ولري، او پر خپل انساني فطرت ټيکاو پاتې شي.

---

﴿فَوَيۡلٞ لِّلۡمُصَلِّينَ ۞۴﴾

نو وای افسوس پر [هاغو] نمونځ کوونکو!(۴)

﴿ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ ۞۵﴾

هماغه کسان چې له خپل نمونځه غفلت کوي(۵) [= خدای ته په توجه او پاملرنه کې غافل دي].

﴿ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ ۞۶﴾

هغوی چې ريا [او ځان ښودنه] کوي.

﴿وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ ۞۷﴾

او د لوښو [او د ګاونډيو د اړتيا او دکور د اړينو توکو يا عمومي وړيا نعمتونو] له عاريت[او پور] ورکولو څخه ډډه کوي(۶) [يا له دې کاره مخنيوی کوي].

| فَوَيۡلٞ | لِّلۡمُصَلِّينَ | ٱلَّذِينَ | هُمۡ | عَن | صَلَاتِهِمۡ | سَاهُونَ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نو وای افسوس | پر نمونځ کوونکو | هاغه کسان چې | دوی | له | خپلو نمونځونو | غافلان |

| ٱلَّذِينَ | هُمۡ | يُرَآءُونَ | وَيَمۡنَعُونَ | ٱلۡمَاعُونَ |
|---|---|---|---|---|
| هاغه کسان چې | دوی | ريا [او ځان ښودنه] کوي | او ډډه کوي [نه ورکوي] | د عامه اړتيا وړ څيزونه |

---

۴ ــ د «وَيْل» [وای] پر وزمه ګواښ کارول چې په قرآن کې [۲۶ ځلې نور] د: مکذبين، کافرين، مشرکين، مطففين همزه لمزه او ... په غندلو کې کارول شوی

دی، د مصلّين [نمونځ کوونکو] پـر وړانـدې ډېـر ګـواښ وزمـه او د همـدغو بـېلارو لـړ ته د داسې نمونځ کوونکو تېتول دي چې يتيمانو او بېوزلو ته پاملرنه نه کوي.

په قرآن کې ۴۷ ځلې له «اِقَا مة صَلَوة» څخه خبره شوې ده چې موخه يـې ددې فريضـې ولاړول او د چارو په سر کې ګومارل دي او له پالونکي څښتن سره د اړيکو له ساتلو سره، په هغه کې پر خشوع، خضوع او تلپاتېتوب ټينګار شـوی دی. پـه اصـطلاحي توګـه پـه نمانځه کې کښته پورته کېدل او غبرګېدل او ددې فرېضې بې روحه ادا کول هيڅ نمـونځ کوونکی د خلکو چوپړ ته نه سموي.

۵ ــ «سَاهُونَ» همدا بې پروايان او پام نه کوونکي دي. «سهو» هاغې خطا ته ويـل کېـږي چې له غفلته حاصله شوې وي، خو له هاغو چارو غافلېدل چې د انسان له ابدي سرليـک سره تړاو لري او له هغو بې پروايي او له سره تېرونه د بښلو او غړنده تېرېـدو وړ نـه ده. لـه خپلې مهمترينې اړيکې سره، چـې لـه پـالونکي څښـتن سره د زړه پيونـد دی څـه ډول کېدای شي سړی غافل او پروا اوسي؟ دا څرګنده ده چې د نړی پنځګر پالونکی څښـتن د بندګانو نمونځ ته اړتيا نلري، خو له هغه څخه د هغوی نه اړمنتيا، د انسان پـه وجـود کـې غرور او منّيت تثبيتوي او د يتيمانو، فقيرانو  او بېوزلو پـر وړانـدې انسـاني احساسـات او عاطفې پر بې تفاوتی او سخت زړه والي تبديلوي.

٦ ــ «مَاعُونَ» د «مَعَن» له ريښې په يو ډول بهير درلودلو او په ګرځند توب کې معنا لـري. لکه: بهنده اوبه [بِمَاءٍ مَعِينٍ – ملک ۳۰ (٦٧:٣٠)] او له بهنده چينې څخه يـو جـام [بِكَـاْسٍ مِنْ مَعِينٍ – صافات ۴۵ (۴۵:۳۷) او واقعه ۱۸ (٥٦:١٨)] له روايتونو څخه داسې څرګنـدېږي چې په تېره کې به هاغو لوښو، اسبابونو او توکو ته ويل کېده چې ګاونډيانو به يو بل ته د پور او امانت په توګه ورکول. ويلی شو چې وسمهال «پيسـو» او اعتبـاري پـاڼو تـه اطـلاق کېدی شي چې د پيرودلو څواک ټاکي او د خلکو ترمنځ جريان لري، همدا راز د خلکـو تر منځ عمومي او مشترکو مالونو ته کېدی شي اطلاق شي.

---

## د ماعون سورت له څلورم تر اووم [۴ ـ ۷] آيتونو تشريح:

د جزا د ورځې د تکذيب کوونو دريم صفت بيانوي: فَوَيْـلٌ لِّلْمُصَـلِّينَ. وای پـر نمونځ کوونکو! بنه، دا کس چې د دين تکذيب کوي، څـوک دی؟ نـه وايـې:

واى پر کافرانو، واى پر مشرکانو، واى پر بت نمانځونکو او بت پالونکو، فرمـايي: واى پر «مصلّين». «صلاة» خداى ته مخ کونه ده، په ځانګړې بڼه. قرآنکريم، پـه ټولو ځايونو کې، ښايي پرته له دوو دريو ځايونو، د نمونځ له «اقامة» کولو خبره کوي. نمونځ اقامة کېدونکى دى، نه د ويلو او لوستلو. يو ځل هم په قرآن کـې تاسو نه وينئ چې ويلې يې وي نمونځ «ووايـاست ـ ولولئ». «اقامة الصلاة» يعنـې خداى ته مخ کول. دا داسې يوه موضوع ده چې بايد هغه جِـدّي ونيـول شي. مثلاً کله چې وايي يو چا ورزش ته مخه کړې ده، يعنې ورزش يې د خپل ژوند د سرليک برخه يا يې خپل ټول ژوند ګرځېدلى دى. يو مهـال داسې وي چـې سړى ورزش ته پاملرنه کوي او هر مهـال چـې وخـت ومـومي د بوختيـا لپـاره ورزش کوي؛ خو يو مهال هم داسې وي چې په جِدّي توګه ورته پلان او برنامه جوړوي. «اقامة الصلاة» هم په همدې معنا دى. يعنـې نمـونځ قـايموي [نمـونځ ولاړوي]. په قرآن کې د «اقامة ميزان» تعبير راغلى دى؛ يعنې عدالت او ميـزان پر پښو ودروئ [ولاړ کړئ]، نه دا چې هغه ولولئ. يا «اقامة قسط» راغلى، يعنـې قسط او عدالت قايم کړئ [نېغ کړئ ـ ولاړ کړئ ـ پر پښو ودروئ]. يـا فرمـايي: وَأَقِيمُواْ وُجُوهَكُمْ عِنـدَ كُـلِّ مَسْـجِدٍ [اعـراف ۲۹(۷:۲۹)] يعنـې پـه هـر مسـجد [نمونځتون] کې، خپله پاملرنه د خداى لور ته برابره کړئ. يعنې خپلو مخ نيونو او هدف نيونو ته سرليک او برنامه طرح کړئ او هغه جدّي او تکړه پـه پـام کـې ونيسئ، چې د نمونځ اقامة هم له همدې ډلې ده.

خو په دې سورت کې، «صلاة» له «اقامة» سره نه دى راغلى او يـوازې «مصـلّين» يې ويلي دي. او دا څرګندوي چې ځينې نمونځ کوونکي نمانځه ته يوازې بڼيزه او ظاهري مخکړنه لري؛ يعنې نه په معنا يې پو هېږي او نه اصلاً په خپل نمـونځ کې پاملرنه، توجه او قلبي حضور لري. په واقعيت کې نمونځ ورته يـو عـادت او ميراث او کورنى سنت او رواج دى. فرمايي واى پر دوى. واى پـر هـاغو کسـانو چې خداى ته يې مخ کړنه، په نمانځه کـې، بڼيـزه، سـطحي او ظـاهري ده او

نمونځ يې د هغوی په وجود کې هيڅ اغيز نه دی کړی، ځکه که اغيز يې کړی وای، لږ تر لږه يتيم ته به يې پاملرنه کولی. نمونځ يعنې الله ته مخ راوړنه او مخ کونه؛ او هاغه چا چې الله ته مخ کړی وي، له شک پرته خدای تعالی به رحمان او رحيم او رئوف ومومي؛ هغه به د ټولو ښونکو صفتونو لرونکی ووينې: خدای وهّاب دی، رزّاق دی، کريم دی؛ نو څنګه کېدی شي يو چا خدای ته مخ کړی وي، او له دې صفتونو هېڅ اثر په هغه کې نه وي؟ انسان چې هر ارزښت ته مخ کړي، پر هغه عاشق کېږي، مينه ورسره پيدا کوي او هرو مرو هاغه ارزښت د هغه په وجود کې اغېز او اثر کوي. دا نشي کېدی چې يو څوک د خدای لور ته تللی وي او واقعاً هغه ته يې مخ کړی وي او په زړه کې يې په دې اړوند ټولو هاغو ارزښتونو او صفتونو لار موندلې وي، خو د يتيم په اړه بې اعتنايي او بې پروايي وکړي او هغه له ځانه وشړي؛ يا د خلکو لوږه او دا واقعيت چې ډېرې کورنۍ په شپو شپو وږې سر پر بالښت ږدي، اصلاً ورته مهم نه وي. دا نو څه نمونځ دی؟! نو، له دې معلومېږي چې اصلاً نمونځ نه دی، يو ظاهري او بڼه ايز صلاة دی. وای پر دوی!

په دې آيت کې وايي: وای افسوس پر دې نمونځ کوونکو!

د ويل کليمه په قرآن کې څو ځايه راغلې ده؛ لکه: وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ. [مطففين۱(۸۳:۱)] وای پر سپک پلورونکو! يا: وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ. [همزه۱(۱۰۴:۱)] وای پر هغوی چې خلک تحقيروي او د هغو شخصيتووږوي او ماتوي! وَيْلٌ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ. [جاثيه۷(۴۵:۷)] يا: وای پر ځان پالونکو چې خلکو ته ناروا نسبتونه ورکوي! ښه پاملرنه وکړئ چې دا «ويل»ـونه په قرآن کې په کومو موردونو کې راغلي دي. دلته هم وايي: «وای پر نمونځ کوونکو»!

نو دوی کوم کسان دي؟ هغوی چې خپل نمونځ هيروي، خپل نمونځ له ياده وباسي؛ «الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ.» هغوی چې له خپله نمونځه غافل دي.

او په هغه کې لټي کوي، نمونځ يې له پاملرنې پرته او له سره تېرونه ده؛ يعنې يوازې عادت او يو لړ آداب سر ته رسوي.

«ساهُون» د «سهو» له مادې په اصل کې د هاغې خطا په معنا دی چې د غفلت له مخې وشي، که د پيليزو په وړاندې کولو کې يې ګرَم وي، په لومړي ځل کېدی شي عذر ولري، او په دويم ځل هم معذور وي، خو دلته مطلب سهو له تقصير، تکرار او پرله پسې توب سره مل ده.

بايد پاملرنه وشي؛ نه وايي: «په خپل لمونځ کې سهو کوي» چون په نمانځه کې سهو په هر حال کې د هر چا لپاره پېښېږي، بلکې فرمايي: «د نمانځه له اصله سهو کوي» او خپل ټول نمونځ هيروي او له ياده يې وباسي.

په څلورم پړاو کې، د دين (جزا) د تکذيب کوونکو دکړنو يو بل ناوړه عمل ته نغوته لري، فرمايي: «دوی هاغه کسان دي چې پرله پسې ريا او ځانښودنه کوي» الَّذِينَ هُمْ يُرَاؤُونَ. دوی يوازې غواړي ظاهري بڼه ښکاره کړي؛ ريا کار دي.

او په پای کې، زياتوي: « هغوی د ژوندانه له اړتيا وړ لومړنيو توکو څخه د نورو مخنيوی کوي» وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ. «ماعون» عمومي او ټولو ته اړوند پانګه ده. خو دا رياکاران غواړي ټول خيزونه خپل ځان ته ځانګړي کړي. داسې خيزونه چې ټولو خلکو پورې اړه لري او ټول بايد ترې ګټه واخلي، انفال او عمومي پانګې، د هغوی له اړمندانو سپموي. «ماعون» «کوثر» ته ورته معنا لري. «کوثر» هاغه خيز دی چې د ډېر خير لرونکی دی. قرآن په بل ځای کې وايي ثروت او پانګه له ځان سره مه ساتئ، پرېږدئ چې د خلکو تر منځ جريان ومومي.

ځېنو مفسرينو له دې لامله چې [صلوة] يې مؤمنينو ته ځانګړی ګڼلی دی، د «مصلِّين» په اړه ددې سورت ملامتوونکي غندنه يې، د هاغو مسلمانانو په شأن کې ګڼلې ده چې د نمانځه ژورتيا، منځپانګې او محتوا ته له پاملرنې پرته يې،

يوازې د هغه پر ظواهرو او د لفظونو پر قالب بسنه کړې ده، په پايله کې له دې فريضې روزنيز او تربيتي اغېز نه اخلي د ناوړه کړنو لکه د يتيم له شړلو، د وږو په مړولو کې د نه ليوالتيا، په نمانځه کې د سهوې او غفلت، له ماعون [د خير له کار] څخه د مخنيوي او ځانښودنې [ريا] مرتکب کېږي. ان تر دې چې د طالقاني (رحمةالله عليه) په څېر د قدر وړ مفسر هم په دې اړه فرمايلي دي:

«... نبايد دا آيتونه د کافرانو يا د قريشو کفارو ... د ځينو وګړو په اړه وي... د همدې لپاره دی چې په ورپسې آيتونو کې هاغه کسان په ګوته شوي او ستايل شوي چې تش په ظاهري بڼه خپل آئين سينګاروي او تظاهر کوي او د هغه حکمونه په ځانګړي توګه نمونځ د تظاهر او ځانښودنې په بڼه سر ته رسوي، خو په واقعيت او باطن کې، د دين تکذيب کوي او له هاغه څه چې د هغې د روح له آثارو او لوازمو څخه دي سر غړوي...ولې نمونځ کوي؟ ــ ددې لپاره چې خپل ځان پر ظاهرالصلاحي سينګار کړي او چې د نمونځ کوونکو په ليکه کې شامل شي او خپل ځان ښکاره کړي او د هاغو پاکزړو د ټولنې له برکتونو برخمن شي .....» [د پرتوی از قرآن تفسير، دويمه برخه له آخري ټوکه (۲۷۲ او ۲۷۳ ) مخونه]

په دې کې کوم شک نشته چې دا ډول اخېستنه او برداشت کېدی شي د هر آئين د پليونانو په اړه چې د هغه پر ظاهري ادبونو او تشريفاتو بسنه کوي، صادق او رښتينی وي او د تېرو مسلمانانو او هم د اوسنيو په اړه کېدی شي ډېرې ښېلګې له دا ډول وګړو په ګوته شي. خو صرفنظر له داسې برداشت او د آية له پايلې او د هغه له عامونې او خپراوي، بايد وليدل شي چې ددې آيتونو د نزول په وخت کې په رښتيا مخاطب يې څوک (يا کوم کسان) وو؟ او د پيغمبر د وحی مخاطبين او مسلمانان له دې اشارو کومو کسانو ته متوجه کېدل؟ يو کس يا څو کسانو ته د مؤمنينو په محدود او مخلص ټولي کې، يا له معاندينو او منکرينو څخه ځېنو کسانو ته؟ دې ته له پاملرنې سره چې دا سورة مکي دی او

نزول يې د بعثت د دويم کال په ړومبيو کې واقع شوی دی، دا پوښتنه مطـرح کېږي چې څه ډول د پيغمبر د بلنې په پيل کې، يو شمېر وګړو له دې ځـانګړنو سره پر پيغمبر ايمان راوړی دی؟ هغه هم په داسې سـختو او خطرنـاکو شرايطـو کې چې ايمان راوړل او لمونځ کول د هر ډول، ځـور، آزار او شـکنجې لامـل کېدل، په هاغو شرايطو کې مؤمنينو خپل لمونځونه پـه پټـه توګـه اقامـه کـول [ولاړول] او داسې کوم لامل شتون نه درلود چې په دې کار کـې ريـا او ځـان ښودنه وکـړي [الـذين هـم يـراءون]. سربيـره پـر دې، يـوې ډلـې فقيرانـو او مستضعفانو چې ايمان راوړی وو، د قوت لا يموت په چمتـو کولـو کـې يـې لـه ډېرې سختۍ سره ژوند کاوه، دا لا څه چې غوښتې يې وي يو شمېر ورې مـاړه کړي او يتيمانو ته پناه ورکړي! اصولا په دوو نورو موردونو کې هم چې په قرآن کې د ورو مړولو ته نه هڅونه تر ملامتۍ لاندې نـزول شـوې ده، پـه هـر دواړو موردونو کې، ددې عمل مصداق شتمن او ځواکمن وګړي معرفي شوي دي:

«مَا أَغْنَى عَنِّي مَالِيَهْ. هَلَكَ عَنِّي سُلْطَانِيَهْ. خُذُوهُ فَغُلُّوهُ. ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ. ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ. إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ. وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ.» [حاقه ٢٨(٦٩:٢٨) تر٣۴]

شتمني مې راته ګټوره نشوه، واکمني مې [= ځواک مې] له لاسه ولاړه. [ويل کېږي] هغه ونيسئ او ويې تړئ. بيا يې دوزخ ته وردننه کړئ. بيا يې په اويا ذراع [= د زياتوالي ښکارندوی] اوږده زنځير بند کړئ. [ځکه] هغه هيڅکله پر ستر الله ايمان نه درلود. او [نورو يا خپل ځان ته] د مسکينانو [او بې وزلو] پر مړولو يې هڅونه نه کوله [= د ورو د ژغورنې لپاره يې هيڅ احساس او انګېزه نه درلوده].

«كَلَّا بَلْ لَا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ. وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ. وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَمًّا. وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا» [فجر١٧(٨٩: ١٧) تر٢٠]

هېڅکله [داسې نه ده] ، بلکې [کره وره مو سم نه دي، او د طبقـاتو اخـتلاف او فقـر او فلاکت له دې لامله دی چې ] تاسو د يتيم [سره احسان او د هغه] عزت نه کـوئ، او

مسکینانو [او بېوزلو ] ته په خوړو ورکولو یو بل نه هڅـوئ، او [د یتیمانـو او ضـعیفانو] میراث خورئ، هغه هم په زښت زیات خوړلو! او له مـال [او شـتمنۍ] سره مینـه کوئ، مینه د ډېر ثروت سره ډېره کلکه. [او له امله یې ډېر گناهونه کوئ].

صرفنظر له دې چې دا ډول تولنیزو فعالیتونو په رسمي او سازمان مونډلې بڼـه د مکې په ټول پَیر کې شوني نه ول. پر دې بنا داسـې برېښـي چـې ددې آیتونـو مصداق او بېلگې باید د هغو د نزول په زمانه کې او د منکرینو [نه مؤمنینـو] پـه منځ کې ولټول شي. مگر دا چې ددې آیتونو مخاطب پـه مکـه کـې د لومړنیـو مسلمانانو پر ځای، منافقین یا هاغه سست ایمانه مسلمانان وگڼو چې د مدینې پـه پَیر کې د سیاسي ځواک او اقتصادي شتمنیو له لامله مسلمانان پر هغوی پـورې تړلي ول. او یا هاغه کسان چې په وروستیو نسلونو او پېړیو کې یـې اسـلام راوړ. ددې منافقینو په اړه هم قرآن کښې کښې همدا ځانگړتیاوې ذکر کړې دي:

«.... وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَى يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَـذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِـيلًا»
[نساء ۱۴۲ (۴:۱۴۲)]

او [د هغو له دوه مخیتوبه یوه بېلگه دا چې] کله چې نمانځه ته ودرېږي، [په لېوالتیا او رغبت نه، بلکې] له لټۍ سره پاڅېږي؛ [هغـوی] لـه خلکـو سره ریاکـاري [او ځـان ښودنه] کوي [= د دینداری نمایش ورکوي] او الله نه یادوي، خو ډېر لږ.

په هر حال، ددې آیتونو د نزول په زمانه کې صرفنظر له مصداقونو او بېلگو، په هېڅ صورت له دې انکار نشي کېدی چې زموږ په زمانه کې بېشمېره مسلمانان، په اصطلاح د پېژندپاڼې مسلمانان! ددې سورت په ملامتیاو کې شامل شي.

خو د «مصلین» د کلیمې په اړه، چې وویل شول ځینو له مفسرینو د هغه مصداق د عرف او عادت له مخې، په نمانځه کې بې پروا، تنبلو او غافلو انسانانو ته نسبت ورکړی، باید وویل شي چې د «صلوة» معنا په لازمي توگه، همدا کومه فریضه چې مسلمانان یې په شپینۍ او ورځینۍ توگه سر ته رسوي، نه ده؛ د

«صلوة» د کلېمې اصل معنا الله ته قلبي توجه او پاملرنه او د هغه له ارادې پلیونې ده. له دې نظره ټول موجودات د «صلوة» لرونکي دي. لکه څنګه چې د نور په سورة کې يې د تسبيح او صلوة نسبت د ځمکې او آسمان ټولو موجوداتو ته ورکړی: أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ [نور ۴۱ (۲۴:۴۱)]

آيا ته نه وينې [= پام دې نه دی کړی] چې بې له شکه هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي يواځې الله ته تسبيح [= د وجودی مثبت رول سرته رسونه] کوي؟ او [له هغې ډلې] الوتونکي چې وزرونه يې غوړولي [= ځوړند په آسمان کې] چې په رښتيني توګه ټول پر خپل نمانځه [= مخه کول او موخه موندنه] او تسبيح [= ستاينه او د مثبتې اصلاحي وظيفې سرته رسونه]، پوهيږي [او اګاهي لري]. او پر هغه څه چې دوی کوي الله پوهيږي.

نو په دې سورت کې په حقيقت کې په هغه زمانه کې د بيت الله د چارو اداره کوونکو  واکمنانو ته نغوته لري چې په ظاهر کې د خلکو په چوپړ کې، او د بيت الله متوليان ول. دوی له مکې سره د تړاو له لامله تش د عامو خلکو د ښودنې او نندارې لپاره هم د نمونځ دود سر ته رساوه خو د هغوی نمونځ يوازې د نندارې په ډول چې له روحه کورټ تش او د ريا لپاره وو.

دا خبره بايد څرګنده شي چې د ابراهيم (ع) په توسه د بيت الله د بيا ودانولو اصل مقصد د صلات اقامة [د نمونځ ولاړول] وو او د هغه تر څنګ يې حضرت اسماعيل (ع) د همدې لپاره استوګن کړ چې د هغه زوزات د نمونځ اهتمام وکړي ـ د همدې لپاره يې د امن او رزق دوعا هم کړې وه. د ابراهيم په سورت کې دا دوعا پر دې ډول پيل شوې ده:

«رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ ...» [پالونکی ښتنه، ما [هاجر او يو] له خپل زوزاته په يوه داسې دره

کې چې د کر کېلې وړتيا نه لري [= بې اوبو او بې وښو ده]، ستا د بيت الحرام تر څنګ مېشت کړي دي؛ پالونکی څښتنه، چې صلات [=له شركه لېرې خدای پلټنه او توحيدي مخ کونه] قايم [او اوچت] کړي ؛....] [ابراهيم۳۷(۱۴:۳۷)].

خو په ورپسې دورو کې د خاينانو او ځان غوښتونکو د برلاسۍ له کبله د نمونځ او زکات بڼه ورانه او پووړه شوه د زکات د ورانولو په اړه په قرآن کې ځای پر ځای نغوته شوې ده او د نمونځ په اړه يې د انفال په سورت کې لنډه شان اشاره شتون لري. چې توضيح به يې کړو:

« وَمَا كَانَ صَلاَتُهُمْ عِندَ الْبَيْتِ إِلاَّ مُكَاء وَتَصْدِيَةً...» [انفال۳۵(۸:۳۵)]

«بيت ته نژدې د هغوی نمونځ [= ديني ادبونه او په مسجدالحرام کې خدای د مخ کوني طريقه] پرته له شپېلیو او ټپاکو زيات څه نه دي [= له ذکر او آګاهۍ پرته تشريفات]؛ ....»

يعنې د مکې مشرکين هم، د عمومي انګېرنې او تصور پر خلاف، «الله» ته معتقد ول، لکه څنګه چې په ځلونو د مخکينيو سورتونو په تشريح کې وويل شول، مشرکين د خدای له ربوبيت او رحمانيته منکرېدل نه د خدای له وجود او خالقيت او رازقيته.

د الله د عبادت او نمانځه په نامه يې څه نا څه مناسك او مراسم پر ځای کول، خو د هغوی نمونځ له خرافاتو او سينګارَوونو سره چې ورپورې تړلي يې ول، الله ته د توجه، پاملرنې او ذکر له حالته پرته، د تشريفاتو او تظاهر په بڼه د شپيليو، هلهلو، غوغا، ټپاکو او لاس ورکولو په قالب کې خلاصه شوی وو. قرآن تأييدوي چې هغوی «صلوة» درلود، خو په دې بڼه يو نمونځ چې وويل شو.

هغوی د حرام د مياشتو حرمت مراعت کاوه، انفاق يې کاوه، حتا د جنابت غسل يې هم سر ته رسوه، په لنډه توګه ويلی شو خپل ځانونه يې د دين او عقيدې او د الهي مرام او مسلک څښتنان او د هغه نمونځ کوونکي ګڼل، خو ادا

اعمال تړول يې، لکه د ډېرو اوسنيو مسلمانانو په څېر، په شرك او خرافاتو ككړ كړي ول، او په منحرف شوې بڼه له محتوا او منځپانګې تش او د رياكارانه تشريفاتو او ادابو په بڼه سر ته رسول. پر دې بنا د هغوی «صلاة» د هغوي په وده او رشد کې کوم اغېز نه رامنځته کاوه. د مشرکينو «صلاة» له خدای سره کوم پرله پسې او اغېزمن پيوند او تړاو نه وو، بلکې د قرآن په تعبير [«الذين هم عن صلاتهم ساهون»] له غفلت او نسيان [هېروني] او ناخالصۍ سره مل دی، د لغت كتاب «المنجد» د ساهون کليمه دا ډول معنا کړې ده: سهوا فی الامر و عن الامر: غفل عنه و نسيه و ذهب قلبه الی غيره.

د «ساهون» د کليمې معنا له يوازېنۍ بل مورده چې دا کليمه په قرآن کې کارول شوې ده هم کولی شو ومومو. اتفاقاً په دې مورد کې هم د «ساهون» نسبت هاغو کسانو ته ورکړل شوی دی چې له «يوم الدين» څخه يې انکار کاوه.

قتل الخرّاصون، الذين هم فی غمرة ساهون، يسئلون ايّان يوم الدين. [ذاريات۱۰(۵۱:۱۰) تر۱۲]، مرګ پر خرّاصون (هاغه كسان چې د اټکل او حدس او ګومان له مخې د لومړنيو حقيقتونو په اړه د نظر څرګندونه او انکار کوي)، هغوی چې د غفلت، هېروني او بې خبرۍ له حالت سره (په خپل دنيايي ژوند کې) ډوب تللي دي او (د انکار او تمسخر له حالت سره) پوښتنه کوي: د جزا ورځ کله ده؟

سربېره پر دې دا کار يې د ځان ښودنې او ريا له مخې سر ته رسوو او هيڅ اخلاص يې نه درلود.[«الذين هم يراؤن»] د نساء په سورت کې يې هم د خدای په ذکر کې دې ډول ريا ته اشاره کړې ده. «... يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلاَ يَذْكُرُونَ اللّهَ إِلاَّ قَلِيلاً» [نساء ۱۴۲(۴:۱۴۲)] . «...له خلكو سره رياكاري [او ځان ښـودنه] كوي [= د ديندارۍ نمايش وركوي] او الله نه يادوي، خو ډېر لږ.»

هغوی حتا «اللَّهُمّ» هم په دوعا او خدای ته په مخ كونو کې كارول، خو د استكبار، عناد او ځيل له لامله يې د هغه له غوره شوي استازي [حضرت رسول

څخه انکار کاوه. « وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً .... » [انفال۳۲(۸:۳۲)] «او [درياد کړه] هاغه مهال چې دوی وويل: ای خدايه! که دا [=قرآن] هماغه حق ستا له لورې دی، نو په دې توګه پر موږ د کاڼو [= د اورشيندو ويلو توکو] اوربشت و وورو‌ه! ....»

ددې سورت د نزول پر مهال، په بدله شوې بڼه هم که ول خو قريشو د نمانځه په نامه د خلکو د غولولو لپاره يو څه درلودل، لکه څنګه چې يو سياسي لېډر او سرلاری د خپلو خلکو د دوکې لپاره د مذهبي چارو ننداره او ښکارونه وړاندې کوي په همدې ډول د قريشو مشرانو هم په خاصو او ځانګړو مهالونو کې ددې رسومو ننداره او ښکارونه پرله پسې وړاندې کوله. د هغوی د همدغه نمونځ په اړه فرمايي چې د هاغو خلکو لپاره دا تباهي ده چې د خپلو نمونځونو له حقيقته ناخبره دي: الَّذِينَ هُمْ يُرَاؤُونَ. وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ. دا د هغوی د نمونځونو د بې حقيقتوالي څرګندونه ده چې يوازې د ځان ښودلو لپاره دا راز نمونځونه کوي . ددوی حال خو دادی چې په وړو وړو څيزونو کې ډېر زيات بخيل دي. دلته غور وکړئ، معلوميږي چې د هغوی د نمونځونو پر بېځانوالي او بې روحوالي د دوو څيزونو پر بنسټ دليل وړاندې کوي يو د هغوی پر رياکارۍ او بل د هغوی پر خسيسوالي.

د نمانځه اصل حقيقت اخلاص دی. او يوازې د الله د رضا د حاصلولو لپاره اداء کېږي او له دې پرته که کوم بل غرض پکې شامل شي نو نمونځ په ټوليزه توګه باطل او له خپل اصل اعتبار څخه بې پايلې، بلکې هلاک کوونکی وي. ددې خلکو نمونځونه خو لومړی د هغوی د عقيدې د فساد له لامله له اخلاصه بې برخې ول، دويم که دا خلک نمونځونه هم وکړي، لکه څنګه چې پورته مو اشاره وکړه، يوازې د ريا او ځانښودنې لپاره ول چې خلک يې مذهبي وګڼي، دا راز نمونځ چې ظاهري بڼه لري يو ډول تمثيل دی چې د ژوندانه له

حقیقتونو سره هیڅ کومه اړیکه او تړاو نلري. لکه څنګه چې په کوم تمثیل یا ډرامه کې د کوم رول په کولو مثلاً د وزیر د رول په کولو څوک نه وزیر کیږي همدا ډول مسجد ته په راتګ او د رکوع او سجدو په تمثیل څوک نمونځ کوونکی نه جوړیږي.

سربېره پر دې ددې خلکو خسیسوالی هم ددې خبرې لامل وو چې د هغوی لمونځونه هم کورټ بې روحه او بې ځانه وي. د نمونځ اصل روح د خپل رب شکر پر ځای کول دي کوم بنده چې د خپل رب شکر کوونکی اوسي هغه خسیس او لئیم نه وي بلکې فیاض او کریم وي هغه د رب له لور په ورکړل شوو نعمتونو کې د نورو حق پیژني. د هغه اندنه دا وي چې زما رب چې پر ما لورینه او پېرزوینه کړې ده نو د هغه د شکر کولو تقاضا ده چې په دې کې هاغه خلک شریک کړه چې ترې بې برخي دي او دا جذبه پرې دومره برلاسې وي چې ډېری وختونه هغه د خپلو ضرورتونه له پامه غورځولو سره له نورو سره د مرستې کولو خوند او خوږوالی محسوسوي. د نمونځ او انفاق تر منځ اړیکه او تړاو پدې کتاب کې ځای پر ځای بیان شوی دی د دین د فلسفې له مخې د شکر له هڅوني ړومبی نمونځ بېه نیسي او نمونځ د انفاق هڅونه کوي او پر دغو دوو څیزونو د شریعت پوره نظام ټیکاو دی.

وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ. «مَاعُونَ» د «مَعَن» له ریښې په یـو ډول بهیـر درلودلـو او پـه ګرځنده توب کې معنا لري. لکه: بهنده اوبه [بِمَاءٍ مَعِينٍ – ملـک ۳۰ (۶۷:۳۰)] او له بهنده چینې څخه یو کټوری [بِكَأْسٍ مِنْ مَعِينٍ – صافات ۴۵ (۳۷:۴۵) او واقعـه ۱۸ (۵۶:۱۸)]. له روایتونو څخه داسې څرګندېږي چې پـه تېـره کـې بـه هـاغو لوښو، اسبابونو او توکو ته ویل کېده چې ګاونډیانو به یو بل ته د پـور او امانـت په توګه ورکول. او پخپلو کې له یو بل څخه غوښتل او په عاریت اخېستل یـې کوم عیب نه ګڼل کېده او هر ګاونډی به له بل ګاونډي څخـه کلـه کلـه د هغـو

غوښتو ته اړ کېده او د هغه غوښتل او ورکول د یوې ټولنې د ښه ژوند او انساني تمدن نښه ګڼل کېده. مثلا که کوم ګاونډی ته له تاسو کوم د اړتیا وړ څیـز لکـه کټ یا بستره یا کوم لوښی یا چاړه یا د ګنډلو ماشین یا لړه مالګه، بوره یا د کـوم بل څیز د غوښتلو اړتیا پېښیږي، نو هر شریف ګاونډی د هغه دا اړتیاوې په ډېره خوښی د زړه له اخلاصه د پـوره کولـو کوښـښ کـوي. چـې دا دود زمـوږ پـه کلیوالي ژوند او دودیزو ښارونو کې تر ډېره بریده لا شتون لـري. یـوازې هاغـه خلك ددې اړتیا په پوره کولو کې ناسمه رویه غوره کوي او سختي کـوي چـې ډېر زیات لئیم او خسیس وي؛ داسې لئیم که نمونځ کوي نو د هغه نمـونځ تـش ځانښودنه او ریا ده، ددې نمانځه لپاره د هغه په زړه کې نه کـوم هڅـوونکی او محرك شته او نه دا نمونځ له کوم اړخه د هغه پر زړه اغېز کوي. بلکـې د ریـا او نمایش له لامله د هغه پر قساوت نور هم زیاتوي.

د اوسنیو شرایطو په پام کې نېولو سره ویلی شو چې وسمهال «پیسو» او اعتباري پاڼو ته اطلاق کېدی شي چې د پیرودلو څواك ټاکي او د خلکو ترمنځ جریـان لري، همدا راز د خلکو تر منځ عمومي او مشترکو مالونو تـه کېـدی شي اطـلاق شي. «ماعون» عمومي او ټولو ته اړوند پانګه ده. خو دا ریاکاران غـواړي ټـول څیزونه خپل ځان ته ځانګړي کړي.

داسې څیزونه چې ټولو خلکو پورې اړه لري او ټـول بایـد تـرې ګټـه واخـلي، انفال او عمومي پانګې، د هغوی له اړمندانو سپموي. «ماعون» «کوثر» تـه ورتـه معنا لري. «کوثر» هاغه څیز دی چې د ډېر خیر لرونکی دی. قرآن په بـل ځـای کې وایي ثروت او پانګه له ځان سره مه ساتئ، پرېږدئ چـې د خلکـو تـر مـنځ جریان وموي، كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاء مِنكُمْ . [حـــشره۷(۵۹:۷)] مـال، دولت نباید یوازې د شتمنو تر منځ وګرځي. بلکې بایـد د ټولـو خلکـو تـر مـنځ ګرځند ولري. پانګه او شتمني ټولو پورې اړه لري. وایي شتمني او پانګـه داسـې یو څیز دی چې خدای تعالی هغه ستاسو د ژونـد د لوړتیـا د وسـیلې پـه توګـه

ګومارلې ده: جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِيَاما. [نساء۵(۴:۵)] مال، شتمني او پانګه د ټولنې د قوام او لوړتيا وسيله ده؛ د ټولنې رشد او وده هغه پورې تړاو لري. وايي: خو دوی مالونه او شتمني تروړي او خپل ځانونه يې خاوندان کوي او د نورو د برخمنتيا خنډ کيږي.

لکه څنګه چې مخکې مو وويل ځينو خلکو دې سورت د فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ. آيه څخه د وروسته برخې پر بنسټ دا سورت مدني ګڼلی. د هغوی انګيرنه داده چې دا ډول رياکارانه او د ځانښودنې نمونځ کوونکي خو په مدنې پير کې پيدا شوي دي په مکي دور کې دا راز خلک چرته ول؟ ددغې اشتباه بنسټ دادی چې دوی له صلات څخه هغه مطلب هاغه لمونځ اخيستی د کوم حکم چې اسلام ورکړی دی خو بايد پوه شو چې مطلب يې په دې سورة کې هماغه د بيت الله د بيا ودانولو له مهاله د حضرت ابراهيم (ع) او زوی يې حضرت اسماعيل (ع) په توسه  د پيژندل شوي نمونځ څخه دی چې پورته مو ورته اشاره وکړه او له نورو اړخونو څخه يې په لاندې توګه نور هم سپړو.

نو کومه پوښتنه مو چې پورته د مصلّين د مصداق په اړه مطرح کړه، لا نوره سپړو؛ لکه څنګه چې مخکې مو وويل: د ماعون سورت د بعثت په هماغو لومړيو او دويمو کلونو کې نازل شوی دی او د بعثت په دويم کال کې نمونځ کوونکي لا پر هاغه معنا نه ول او دين هم لا تر دې مهاله دومره خپور شوی نه وو او هم دا چې دين لا په اصطلاح روتی او اوبه نه درلودل چې څوک وغواړي په منافقانه توګه د دين رنګ واخلي؛ البته وروسته چې مسلمانان ځواک ته ورسيدل، يعنې د مدينې په دوران کې وو چې ديندارۍ مزد او مقام پيدا کړ؛ او دا خبره خو د مکې په دوران کې په هاغې سخت او ستونزمن دوران کې ده؛ په هاغه دوران کې يې هيڅ معنا نه درلوده چې يو څوک وغواړي د ديندارۍ ننداره ورکړي، يا دا چې وغواړي ماعون او شتمني له اړمنو

وسپموي. د هاغې دورې مسلمانانو خو پخپله د شپې ډوډۍ نه درلوده چې ويې خوري، دا لا څه چې وغواړي ماعون له نورو وسپموي. په خپلو نمونځونو کې يې تر ډېره بريده غفلت، لټي او له سره تېرونه نکوله، بلکې د مسلمانۍ نمونه ګڼل کېدل. کومو کسانو چې د مکې په هاغو کلونو کې ايمان راوړی وو، تر فشار او نبتېځنې لاندې په سختترينو او ستونزمنو شرايطو کې يې ژوند کاوه؛ دوی د اسلام له مخکښانو ول. نو دا خبرې هغوی پورې نه نښلي؛ پر دې بنا بايد ووايو چې يا دا آيتونه راتلونکو او په اسلام کې د حاصل ټولولو او برخمنتيا دوران ته نغوته لري، يا دا چې له «مصلّين» څخه مطلب نور کسان دي.

واقعيت د چار دادی چې له دې آيتونو څخه مطلب مسلمانان نه دي، مسئله دا ده څرنګه چې مورږ صلاة «نمونځ» ترجمه کړی دی، انګيرو چې دا خبرې بايد د نمونځ کوونکو په اړه وي، په داسې حال کې چې مشرکانو هم نمونځ کوه او صلاة يې درلود. لکه چې پورته مو ورته نغوته وکړه، قرآن فرمايي: وَمَا كَانَ صَلاَتُهُمْ عِندَ الْبَيْتِ إِلاَّ مُكَاء وَتَصْدِيَةً. [انفال۳۵(۸:۳۵)] دهغوی صلاة څه ډول وو؟ هيڅ!، د کعبې ګردچاپېره به راټولېدل او نارې به يې ايستلې او شپلاکې [چک چکې] به يې وهلې او هلهله [غوغا] به يې کوله! دا د هغوی ديني فريضه وه!

همدا اوس هم ډېری له هاغو کسانو چې د مولوی په کليزو کې قونيه ته ځي او د مولانا پر مزار، د هاغه ستر او جليل القدر عارف ، دوی څه کوي؟ پرته له دې چې «سماع» کوي؟ او څرخېږي او ځينې نور حرکتونه کوي چې واقعاً نامفهوم دي، او دوی وايي دا پلانکی مفهوم لري. سړی واقعاً په ډاډه توګه نشي ويلی چې مولانا دې مرتباً پرله پسې د بېخودۍ په حالت کې داسې د خپل ځان په چورليز څرخېده، مګر په ځانګړو موردونو کې. خو نن ورځ مورږ وينو چې د مولانا سره مينه او له هغه پليوني، د څېنو لپاره د سماع د رقص او ګډا بنه مونډلې ده او د مثنوي له ستر کتابه په سماع بسنه کوي!

لنډه دا چې، مشرکانو هم په خپله زمانه کې صلاة درلود، لـومړی بایـد پـوه شـو چې هغوی له خدایه منکر نه ول. ویل یـې دا ناشـونی دی چـې الله لـه هاغـه عظمت او ستروالي سره، یو فقیر او یتیم سړی لکه محمّد (ص) د خپل نماینـده او استازي په توګه غوره کړي. ویل به یې: اللَّهُمَّ إِن كَـانَ هَـذَا هُـوَ الْحَـقَّ مِـنْ عِندِكَ، خدایا، که دا د قریشو فقیر وغـواړي سـتا اسـتازی اوسي، فَـأَمْطِرْ عَلَيْنَـا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاء، [انفال۳۲(۸:۳۲)] نو، پر موږ اسماني تیـږې و وروه! خـو دا څنګه کېدای شي ته له دومره ستر مقام سره، او نماینده دې داسې یـو فقیـر او بېکس او بېکاره یو سړی وي؟ وای که داسې وي! او که دا حقیقت ولري! څمکه دې موږ ته خوله وازه کړي او موږ دې تېر کړي!.

نو، وینو چې خدای یې منه. قرآن فرمایي: وَلَئِن سَـأَلْتَهُم مَّـنْ خَلَـقَ السَّـمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ، که له هغوی پوښتنه وکړې چا څمکه او آسمانونه پنځولي دي؟ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ. [عنکبوت ٦١(٢٩:٦١)] هرو مرو به ووایي الله. یا که له هغـو وپوښـتې چـې څوک تاسو ته روزي درکوي؟ هرو مرو وایي: الله. پـه ځلونـو پـه قـرآن کـې د مشرکانو اعتقادونه مطرح شوي او ټینګار شوی چـې دوی لـه الله منکـر نـه ول، بلکې ویل یې چې د الله شأن اجل دی له دې چې له موږ آدمیانو سره سروکـار ولري. نو دا چې زموږ لاس هغه ته نه رسېږي،[هغوی بوتان د پرښتو سیمبول او پرښتې یې هم د خدای لوڼه ګڼلې] نو څکه دې بوتانو ته متوسل کېـږو چـې د جهان اداره الله هغوی ته سپارلې ده. او دوی چون پرښتې نه لیدلې، بوتان یې د هغوی په نوم او نښان جوړول، او هغوی ته یې مخ کاوه.

په هر حال، مشرکانو نمونځ درلود، ومو ویل او واضح مو کړ چـې څـه ډول وو؟ لکه د هاغو ادابو او رسوماتو په څېر چـې پـه ځېنـو افریقـایي قبیلـو کـې یـې وینو؛یو ډول رقص او ګډا او ځېنې حرکتونه چې له یو ځانګړي ریتدم سره پرله پسې تکرارېږي. همدې ته ورته حرکتونه مشرکانو هم درلودل. قرآن نقـل کـوي

چې صلات يې دا ډول وو: إِلاَّ مُكَاءً وَتَصْدِيَةً ، اوازونه او نارې به يې کارولې، له يوه ځانګړي ريتدم او ګډا ته ورته حرکتونو سره.

نو، دوی ته په خطاب کې فرمايي چې دا کارونه سره نه اصلاح کوي. دا «صلاة» يوازې ننداره، تظاهر او ښکارونه ده: يَرَاؤُونَ. يعنې ننداره ورکوي. يعنې همدا ګډاګانې چې مو وويلې. عرفاني رقصونه او ګډاګانې هم بايد وويل شي يو ډول تظاهر، ننداره او ښکارونه ده او هيڅوك هم د عدالت ګومارنې او خلکو ته د نياو رسولو لپاره نه لمسوي. هاغه «صلاة» چې پر خلکو روزنيز اغېز نلري. دا راز بنيز، ساختګي او غير طبيعي حرکتونه، چې هيڅ کوم مثبت ټولنيز اغيز پرې تېکاو نه دی. همدا وسمهال هم زموږ په چاپېريال کې وينو چې له حسيني ستر نهضت څخه ځېنو څه راز ناوړه موندنه او څومره اړولې اخيستنه کړې ده؟ آيا همدا آداب او تشريفات چې ځېنې مسلمانان يې د محرم په مياشت کې او ددې په څېر په نورو مهالونو کې سرته رسوي،آيا له حسيني نهضته بايد دا راز موندنه او زده کړه ولرو؟ دا سينه وهنې او زنځير او قمه وهنې، چې په کال کې څو ورځې دوام کوي او غځېږي، آيا کوم روزنيز اغيز لري چې ووايو د ټولنې يتيمانو او وږو ته پاملرنه زياتوي او د ټولنې ناسمۍ او ګډوډۍ سموي؟ يا يوازې احساسات دي او يوه څپه ده چې راځي او لکه د پيريانو په څېر يو شمېر نيسي او هغوی پر خپل سر او سينې وهي، لکه څنګه چې وينو کله کله کار تر دې بريده رسوي چې واړه ماشومان [حتا دوه کلن ماشوم]، پر قمه وهي او وروسته پلار او مور يې له ډېر وياړ سره هغه ماشوم، چې وينې يې له سترګو او خولې او سر او پښو بهيږي، په غېږ کې نيسي او خوښي کوي چې ګواکې صواب او وړتيا يې په برخه شوې ده ځکه چې دا ماشوم يې له دې سن څخه له سيدالشهدا سره آشنا کړی دی او دا وينه چې له دې ماشومه ځي د هاغې وينې په څېر ده چې په کربلا کې له امام حسين څخه توی شوې ده او له دې کار سره يې د هغه لپاره جنت تضمين کړی دی. ښه، دا نو څه زده کړه لري؟ دا څه اغيز پرېږدي؟

ددې پر ځای چې د شهیدانو سالار وپیژني، د هغه پیغام واخلي او عمل پرې وکړي، د پیغام پر ځای، د عاشورا د ورځې پلو برکت مومي، موږ له خپلو پښو څخه د اسارت او بندګۍ د زنځیرونو د پرانیستلو او لیرې کولو پر ځای، او هم د ځان غوښتنو او ځان پالنو څخه د خوشې کېدو پر ځای پر خپل بدن زنځیرونه وهو. د حسیني نهضت پر روح د پوهېدو لپاره د خپلو سینو د پرانیستلو او انشراح صدر پر ځای پر خپلو سرونو او سینو وهو. ټول څیزونه د ننداري او ښکارونې پر شکل او بڼه شوي دي. دا دی چې وایي: وای پر نمونځ کوونکو! صلاة یعنې د خدای لور ته مخ کونه؛ یعنې د خدای لور ته تګ؛ خو زموږ سنتي پرګنې پر داسې کارونو د صلاة نوم ږدي. تصور کوي او انګیري چې له دې کارونو سره لګیا دي دیني کارونه سر ته رسوي او خدای ته یې مخ کړی دی. آیا خدای له دې راضي دی چې بنده یې ځان ته ځور ورکړي؟ او په ځینو سیمو لکه پاکستان کې د عزادارۍ پر مهال د زنځیرونو څوکي لکه د چړو او خنجر په څېر تېرې او غوڅوونکې کوي، په داسې ډول چې کله یې پر خپلو شاګانو وهي د شا پوټکی یې پرې کوي چې واقعاً هولناکې صحنې جوړوي. خو د هغوی انګېرنه او تصور دادی چې لګیا دي دیني کار او فداکاري کوي او اجر، جزا او ځای یې جنت دی.

په دې سورة کې خبره له دې پېښو او له دا ډول صحنو ده. وای افسوس پر هاغو کسانو چې په دې ډول خدای ته مخ کوي. له دې کارونو څخه له دیني ننداري او ښکارونې پرته نور څه محصول او ېبره حاصلېږي؟ یوازې ریا او ننداره. [یُرَاؤُون،] آخر څه ګټه لرې چې موږ خپل زړه خوشحال کړو چې د محرم په میاشت کې دلته په لندن او نیویارک او واشنګټن او ..... کې مو د سینه وهونکو څو زریزې ډلې پر لار اچولې؟ د ویاړ احساس وکړو له دې چې انګلیسانو او امریکایانو ته وښایو چې موږ د خپل مذهب لپاره سینه وهو. آخر دا ډول کارونه د اروپا او امریکا په ټولنه کې څه اغیز ښندي؟ آیا په واقعیت کې

اسلام معرفي کوي؟ آيا بهتره نه ده چې ددې کارونو پر ځای، د امام حسين (ع) پيغام او هاغه ارزښتونه او الهي اخلاقيات هغوی ته ولېږدوو؟ مثلاً که سي ډي او ډي وي ډي چمتو کړو او فيلم جوړ کړو او لنډه دا چې هاغه کارونه چې په غربي فرهنگ کې يې د منلو ډګر شتون لري سرته ورسوو؟ سربېره پر دې دا ټول له دې حکايت کوي چې موږ له يوه واقعي چار او لار لېرې شوي يو او پر يوه سطحي او بېزه څيز مو زړه خوښ کړی دی. که د صلاة مفهوم پراخ ونيسو او تېرې زمانې ته يې يوسو، وينو چې دا سورت لگيا دی د دينداری همدا ډول رياکاري ننداري او ښکاروني غندي. قرآن د واقعي صلاة په اړه وايي: إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ. [عنکبوت۴۵(۲۹:۴۵)] صلاة څه کوي؟ واقعي صلاة، تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ، له بدو او ناوړه کارونو څخه مخنيوی کوي، او د خدای ياد له دې ټولو ستر، اوچتتر، او مهمتر دی.

تاسو به ډېرې داسې پېښې ليدلي يا اوريدلي وي چې يو پلار يا ورور به خپله لور يا خور په خپل لاس په دې جرم وژلې وي چې گواکې د کوم هلک سره يې تګ راتګ کړی دی، چې لا تر اوسه جرم يې هم په سمه توګه جوت نه دی او پلار يا ورور به يې د ډېرې شيخۍ له لامله او ددې لپاره چې خلکو ته ځان ښه مسلمان معرفي کړي داسې يو عمل سر ته رسولی وي او په دې به هم مشهور وي چې زيارتونو ته مثلاً پير بابا ته، او مير بابا ته، او يا جمکران ته تګ راتګ کوي او د خبرې لاندې باندې به د دين او ايمان خبره کوي اوس ووينئ چې دا څه ډول دينداري ده چې يو څوک خپل اولاد ووژني، هغه هم د داسې جرم لپاره چې لا تر اوسه ثابت او جوت شوی نه دی او له دې وروسته لا هم د مسلمانۍ او دينداری مدعي وي! د قرآن په کوم ځای کې يې فرمايلي دي چې د داسې کار قصاص قتل دی؟ يوازې د قتل لپاره کېدی شي قصاص وشي. دا

راز پېښې څرګنـدوي چـې دا زيـارت تګونـه او ظـاهري دينـداري، د يـراؤُونَ مصداق دی چې عملاً هيڅ ډول مثبت اغېز نه لري.

لنډه دا چې، په دې سورة کې خبره د ظاهر او باطن تر منځ لـه دا ډول ټکـر او تعارض څخه ده. د واقعي نمونځ کونکو په اړه د «معارج» په سـورة کـې توضـيح ورکول شوې او دلته په لنډه توګه ورته اشاره کوو؛ د معارج په سورة کې، په ۱۹ تر ۳۴ آيتونو کې يې، واقعي «مصلّين» معرفي کړي دي.

فرمايي: إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا. انسان «هَلُوع» پنځول شوی دی. «هلوع» يعنـې څه؟ يعني دا چې: إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا. کله چې په ژوندانه کې کومـه سـتونزه او سختي ورته رسېږي، ډېر ژر خپل ځان بايلي او جَزَع او فَزَع کوي؛ شـکايت او ماڼه کوي چې ولې داسې پېښه وشوه؟ بې وسې، ناتوانـه او ناټيکـاوه شخصـيت لري. نا زغمي کوي، زغم نلري. په اصطلاح، لـه يـوې غـوړې سره يـې يخنـي کېږي او له يوه کشمش سره يې ګرمي کېږي. د رحمان بابا په وينا:

کله په نمر سوزي کله رېږدي په ساړه

کله مري له لوږې کله مري په ډېر خواړه

واړه په غوغا دي چې راغلي په دنيا دي

نه يې هغه وړي په قرار دي نه ماړه

فرمايي انسان دا ډول دی.

وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا. کله هم چې خير ورته رسېږي، نور نو د خدای بنـده نـه دی! «مَنوع» يعنې د خير مانع. د خير مخه نيسي. حتا نور هم که يو چا ته خيـر ورسوي، غواړي هغه ترې تېر کړي او مخنيوی يې وکړي. هر مهـال چـې دنيـا هغه ته مخه وکړي، ځان ترې ورکېږي، او هر مهال چې دنيـا ورتـه شـا کـړي، ځان بايلي، يعنې د يو پل او يوې شېبې ټينګتيا او ټيکاو نلري.

إِلَّا الْمُصَلِّينَ. مګر نمونځ کوونکي. اوس «مصلّين» ته پاملرنه وکړئ. دلته له واقعي مصلين څخه خبره کوي. دوی [واقعي مصلّين] کوم کسان دي؟

الَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلاَتِهِمْ دَائِمُونَ. هاغه کسان چې په خپل نمانځه کې [يعني مخکړنه يې الله ته]، تل پاتېوالی لري او ټيکاو دي. پـه مقابـل لـور کـې، د «ماعون» په سورة کې مو ولوستل چې: الَّذِينَ هُمْ عَن صَـلاَتِهِمْ سَـاهُونَ. هاغـه نمونځ کوونکي چې په خپل نمانځه کې غافل دي او په هغه کـې لتـي کـوي او پاملرنه نکوي. يعني په الهي کارونو کې او الله ته په مـخ کړنـه کـې يـې، دا کـه مطالعه وي، که ماتم کول وي، که دعا وي او که نمونځ وي، هرڅه چې وي، چې دا ټول په حقيقت کې «صلاة» ګڼل کېږي، غافل او بې پروا دي او تـل پـاتېتوب او ټيکاوتيا نه لري.

وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ. حقيقي نمونځ کوونکي، هاغه کسان دي چې لـه خپلو مالونو څخه يې، معلوم او ځانګړي حقونه بېل کـړي دي؛ د کومـو کسـانو لپاره؟ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ. د اړمنو، بېوزلو او محرومانو لپاره. خـو د «مـاعون» پـه سورة کې د هاغو نمونځ کوونکو په اړه وو چې يتـيم لـه ځانـه شـړي او د وږو د مړولو لپاره هيڅ کومه هَڅَونه او انګيزه نلري.

وَالَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ. هغوی چې د اجر او جزا پر ورځ عملاً باور لـري. د «ماعون» په سورة کې يې وفرمايل أرأيت الّـذي يکـذّب بالـدين. خـو دلتـه فرمايي يصدّقون بيوم الدّين.

وَالَّذِينَ هُم مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ. هغوی چې د خپل رب له عذابه ډارونکـي او بيمناك دي. پاملرنه وکړئ چې دلته يې هم فرمايلي «رب»، نه الله. يعنې بيـا ددې حقيقت يادونه کوي چې دنيا يو اربـاب لـري او قـانون او نظامونـه پکـې واکمن دي چې ترې ډار بايد ولرل شي، لکه څنګه چې په مدني ټولنو کې کـه کوم خلاف، خطا او ناسم عمل وکړو له څارندوی [پوليس] او د ماليې اخيسـتلو له مامور او نورو څخه ډارېږو، بايد له الهي قـانون هـم بيمنـاك او پـه ډار کـې اوسو. دا ونه انګېرو چې دنيا پرته له حسـاب او کتابـه ده او اربـاب او د اختيـار خاوند نلري او هر څوك چې هر کار وکړي تېرېږي. د رحمان بابا په وينا:

دلته دم او قدم دواړه په حساب دي

پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه

راستولی خدای حساب دی په کتاب کې

خبر زده کړه له حساب او له کتابه

مشفقون. انسان بايد ويره او پروا ولري او د خپلو خطاګانو او ناسميو په اړه انديښنه ولري. إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ. له الهي عذابه پناهځی نشته، له هغه بچ کېدل شوني نه دي او ترې تېښته ناشوني ده. د پوليسو او انتظامي ځواکونو په څېر نه دي چې کېدی شي پام يې نه شي او رادار يې ونه نيسي.

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ. هغوی چې خپل جنسي اندامونه ساتي؛ يعنې عفيف او سپېڅلي دي او خپله لمن پاکه ساتي.

إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ. مګر له خپلو جوړو او همسرانو سره، يا له خپلو وينځو سره، چې په تېرو ټولنو کې د وينځې درلودل يو عادي چار ګڼل کېده. د «ملكت» فعل ماضي دی، نه مضارع چې د ادامې او غځېدنې معنا ولري. يعنې هاغه څه چې د جاهليت د دوران له رسوماتو پاتې شوي دي او بايد ورو ورو په تدريج ټول شي او له منځه ولاړ شي.

فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ. او هر چا چې له دې بريده پښه اخوا ايښې تعدی او زياتی يې کړی دی.

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ. او هغوی چې خپلو امانتونو ته او ژمنو ته يې کلک ترلي تابعدار او ټينګ پاتې دي.

وَالَّذِينَ هُم بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ. او هغوی چې که کوم شهادت ورکړ پرې کلک ودرېږي. که ګواښنه ورته هم وکړل شي، شاتګ نکوي. که د يوې پېښې شاهد اوسي، يا له هغې سمه پوهنه او آګاهي لري، حقيقت نه پټوي، که دا شهادت د حقوال په ګټه وي او يا که شهادت د آزادۍ او عدالت او د محرومانو د حقونو په ډګر کې د حضور په معنا وي.

وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ. او په پای کې، هاغه کسان چې لـه الله سره اړيکه [«صلاة»] ساتي. له خدای سره ډېره نژدې اړيکه ساتي. نه دا چې هر مهال مو زړه وغواړي او په طبعه مو برابر وي يا کوم حاجت ولرو د خدای پـه څـرک پسې ځو!. موږ د هاغو کسانو سره په اړيکه کې چې هغـوی تـه اړتيا لـرو، لکـه رئيس يا مشر مو، خپله اړيکه ورسره ډېره ښه او په پاملرنه او جـدّي توګـه سـاتو، خو کله چې خدای ته وار رسېږي، نور لومړيتوبونه رامخته کېږي! خـو واقعـي لمونځ کوونکي [مصلّين] له خدای سره خپله اړيکه د زړه له تله په جـدي توګـه په اخلاص، کلکه ټينګوي او ددې تړاو حافظ او ساتونکی وي.

او په پای کې فرمايي: «أُولَئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُكْرَمُـونَ.» دوی پـه غـوره او بهترينـو جنتونو کې ځای نيسـي او نيکمرغی ته رسيږي.

دا د واقعي نمونځ کوونکو [مصلّين] اوصاف او ستاينې وې، د نندارې يي مصـلّين پر وړاندې چې د «ماعون» په سورت کې له هغوی يادونه وشوه.

بختور دی هاغه څوک چې پر وخت نمونځ کوي او له ريا او ځانښـودنې پرهېـز کوي او له اړمنو او نيازمندانو سره مرسته کوي، د داسې کس زړه ته د ايمان نور ننوتی دی او دا واقعي مخلص مؤمن دی.

پاکه خدايه! د نيت خلوص ډېر سخت او ستونزمن چار دی، ته پخپله مونږ سره په دې لار کې مرسته وکړه!

پالونکی څښتنه! داسې يو ايمان پر موږ ولوره چې ستا لـه ثـواب او عقـاب پرتـه هيڅ اندنه ونکړو او ستا په لار کې د خلکو رضا، خوښي او غضب يو برابر وي!

يا الهي! په دې لار کې مو چې تر اوسه هره سهوه او خطا کړې، موږته يې وبښه!

صدق الله العليّ العظيم.

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:


۱ ــ نظم قرآن     ــ د عبدالعلي بازرگان  لیکنه

۲ ــ آشنايي با قرآن  ــ د مرتضی مطهري  ليکنه

۳ ــ في ظلال القرآن ــ  د  سيد قطب  لیکنه

۴ ــ تفهيم القرآن  ــ د مولانا سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه

۵ ــ تدبر قرآن ــ د مولانا امين احسن اصلاحي ليکنه

۶ ــ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي ] ــ عبدالعلي بازرگان

۷ ــ الميزان في تفسيرالقرآن ــ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه

۸ ــ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ــ مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبيراحمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله

۹ ــ پرتوی از قرآن ــ د سيد محمود طالقاني ليکنه

۱۰ ــ تفسير نمونه ــ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه

۱۱ ــ تفسير نور ــ د مصطفی خرمدل ليکنه

۱۲ ــ تابشي از قرآن ــ د  سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي ليکنه

۱۳ ــ تفسير باران ــ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه

۱۴ ــ ترجمه تفسير طبري ــ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح

۱۵ ــ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي

۱۶ ــ معارف القرآن ــ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه

۱۷ ــ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ــ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ــ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي

۱۸ ــ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی

۱۹ ــ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ــ مولوي قيام الدين کشاف

۲۰ ــ عزيزالتفاسير ــ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ــ مولوي سلطان عزيز (عزيز)

۲۱ ــ صفوةالتفاسير ــ د محمدعلي الصابوني ليکنه ــ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده

۲۲ ــ د قرآن پلوشې ــ د ګلب الدين حکمتيار لیکنه

۲۳ ــ تفسير دېوبندي ــ د مولوي عبدالحنان لیکنه

۲۴ ــ حکمة القرآن ــ د مولوي امين الله پېښاوری لیکنه

۲۵ ــ تفسير ايوبي حنفي ــ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لیکنه

۲٦ ــ تفسير احسن الکلام ــ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه
۲۷ ــ قرآن کريم په پښتو ــ د اجرالدين اقبال ژباړه
۲۸ــــ شرحــې بــر ســوره هــای قــرآن ـ عبــدالعلي بازرگــان ـ د عبــدالعلي بازرگــان ویــب پاڼــه [bazargan.com]
۲۹ ــ تفسير روح القرآن ــ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.
۳۰ ــ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ــ مولوي جانباز سرفراز
۳۱ ــ روح المعاني فی تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانی ــ العلامه ابی الفضـل  شـهاب الـدين محمودالالوسی البغدادي
۳۲ ــ تفسير جواهرالقرآن ــ مولانا حسين علي
۳۳ ــ تفسير روح البيان ــ شيخ اسماعيل حقی البروسوی
۳۴ ـ «کنزالايمان او تفسير نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي
۳۵ ــ کشف الاسرار و عُدة الابرار ــ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري
۳٦ ــ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي
۳۷ ــ تفسير الفخرالرّازی المشهور بالتفسيرالکبير و مفاتيح الغيب، امام محمد الرازی فخرالدين
۳۸ ــ التّفسيرالمبين ــ دوکتور عبدالرحمن بن حسن النّفيسه
۳۹ ــ تفسير قرطبی ــ محمد بن احمد بن ابوبکر قرطبي، ترجمه اردو: پيرمحمد کرم شاه